# اخ وطنه

نصیر احمد احمدی
ترتیب وهاب

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱)

د خرې هیلی په وزر کې څړیکه شوه. وزر یې ورپاوه، پورته پاتې کېدا یې له اختیاره ووته، لاندې پر شنو لوخو ورغله. چړپ! د ډنډ اوبه باد شوې، هیلی لوخو ته ور وښوېیده، ځان یې غلی کړ.

په سترګو یې زور را ووست. نه خلاصېدې، په اوبو کې نږدې چړپا راغله، یو چا تېزه ساه وهله، د هیلی زړه پورته غورځېده.

پر مخ یې توده سا ولګېده، سترګې یې په زحمت رڼې کړې، زړه یې خولې ته راغی. د سپي تور وربوز و.

د انسان لاس ور وغځېد، هیلی نارې کړې، سړي له جېبه تېره چاقو را وایست، یو نری غږ راغی:

- شیرین اغا! مه یې حلالوه، ډېره نه ده زخمي، ساتم یې.

سړي په خوشکه وویل:

–د سپي زویه په دې عقل، سارایي هیلی نو اموخته کېږي؟

(۲)

کړپا راغله. پیشو میو کړل. و یې ویل:

–کوکوګله ده. که یې بیا دلته، په کادانه کې ولیدم، مړه به مې کي.

چرګې نارې کړې:

- کوټ، کوټ ، کټات.

پیشو وویل:

–کوکو ګلې ته دومره چاپلوسي مه کوه! څه دې کړي؟ دوه خیرن چرګوړي په دومره نارو نه ارزي. پوره څوارلس تازه هګی دې ورستې کړې.

د بوټونو غږ د کادانې له وره سره ودرېد. پیشو پورته پروړې (بوسو) ته وخته. ځان یې غلی کړ. د غوړیو له زنګ وهلو ټیمانو جوړه دروازه مازې چوله شوه. درب، خړه هیلی پر خړه ځمکه ولوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازه بېرته پورې شوه.

سېرلي ناره کړه.

-بس، مورې خو ماړه شوو، یوازې همدا خیرنه پاتې وه.

پیشو له پورته را ټوپ کړل، تر هیلی راوګرځېده، ورو یې وویل:

-سېرلیه! بد نیتي مه کوه. تر تا لوڅ کوني خو اوس هم ښه ده.

سېرلي منډه ور واخیسته، پیشو پورته پروړې ته ور ټوپ کړل.

چرګې وویل:

-پیشو، ټکې حیا نه لرې، کوچنیان به څه درنه زده کړي.

پیښو ور غږ کړل:

-په دوو مردار خورو چرګوړو دومره مه نازېږه! ویده دي.

بېرته را کښته شوه. تر هیلی را وګرځېده، ویې ویل:

-وزر دې ډېر درد کوي؟

چرګې ور ناره کړه:

-وه کم عقلې! مات وزر نو بې درده وي!؟

پیشو، هیلی ته نوره هم ور نږدې شوه. هیلی په راوتلو رډو سترګو ورته کتل.

پیشو وویل:

-رحمدله، خدای دې دا غټې سپږمې ورکې که، دا ښکلی بشر نو د ویشتلو وا؟

سره ژبه یې د هیلی پر مات وزر تېره کړه. له ژبې یې ټک وایست، بېرته د پروړې سر ته وخته.

سېرلي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–چاپلوسي دې بې څه نه وه.

پیشو ور غږ کړل:

–ته چا نه بې غږولی، کرار کېنه، د وزر وینه مې ور پاکه کړه. ښه شوه. زخم به یې ژر جوړ شي.

د چرګې د ټېر له ګېڼو، تخته بڼکو د چرګوړو چونګا راغله. چرګې وویل:

–پیشو! ستا په مردارو ناړو کې به څه وي!؟ سم ووایه چې وینې ته پېریانو ونیولې.

پیشو پرېوته، لکۍ یې تر خېټې راوګرځوله، اوږد اررمی یې وایست، پزه یې کش کړه، ویې ویل:

–سېرلیه ټیزنه، کم خوره. هوا دې بدله کړه.

سېرلی غلی پروت و.

پیشو وویل:

–په دنیا کې مې د دوو کسانو له بویه بد راځي، یو د سېرلي، بل د رحمدل، اوف! ورک یې که، سا به دې در بنده کې.

له پروړې را کښته شوه. تر هیلۍ را وګرځېده، ودرېده، د هیلۍ پر مات وزر یې سره ژبه تېره کړه.

د چرګې ناره راغله:

–هیلۍ! ولې دې واښې ورته وتلې دي، اوږده، کلکه منښوکه لرې، دومره عاجزي ښه نه ده. پیشو به دې اخېر وخوري.

هیلۍ وترهېده. په دېوال پورې یې ځان ونیو.

پیشو وویل:

–هیلۍ! یو به د چرګې نه منې، دورواغ درته وایي، له وزره راوتلې وینې دې د خولې خوند را بد کړ، بس. ستا لپاره مې وڅټله.

هیلۍ چرګې ته ور نږدې شوه. مات وزر یې له ځانه بېل نیولی و.

چرګې پیشو ته وکتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-بلا دې په دا سپينو ستړګو شه، ټکی شرم نه لرې.

پيشو په پروړه کې ځان ته ځای جوړ کړ، غلې پرېوته.

چرګې هيلۍ ته وکتل، و يې ويل:

-نوره هم را نږدې شه!

هيلۍ ورغله.

چرګې وويل:

-له ما مه لرې کېږه، همدا ځای درته ښه دی.

غلې شوه، و يې ويل:

-ښه کيسه وکه. چېرته يې وويشتې؟

هيلۍ غريو واخيسته.

پيشو ور غږ کړل.

-مه يې پازابوه.

چرګې وويل:

پيشو! چوپه خوله ښه ښکارې.

هيلۍ ته يې وکتل، ويې ويل:

-ښه ګرانې، چېرته يې وويشتې؟

هيلۍ په غريو کې وويل:

-سهار وخته له نورو هيليو سره په هوا کې روانه وم، اول مې په وزر کې څرېکه شوه، بيا درب راغی، پر ګڼو لوخو ورغلم

پيشو په خبره کې ور ولوېده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-بیا دې پر مخ توده ساه ولګېده، سترګې دې رڼې کړې، تور، بدرنګه وربوز دې ولید.

د هیلی سترګې ردې را وختې:

-پیشو له کومه پوهېږې؟

چرګې وویل:

-دلته بې تر اوسه ستا غوندې درې نورې سارایې هیلی هم راوړې دي، ټولو همدا یوه کیسه کوله.

هیلی وویل:

-هغه هیلی چېرته دي؟

پیشو ور غبرګ کړل:

-رحمدل وخوړې.

هیلی یو دم وژړل.

چرګې وویل:

-وه کم عقلې پیشو، دا خبره نو د کېدو وه!؟

هیلی په ژړا کې وویل:

-ما هم خوري؟

چرګې وویل:

-نه. تا به ولې خوري!

پیشو ور غبرګ کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-دورواغ درته وايي. ته نو څه د رحمدل د پلار لور يې. د خوراک لپاره يې ويشتلې يې. بس، څو ورځې به د رحمدل کوچنی زوی سات دربانديې تېر کړي، بيا به دې کټوې ته ور واچوي، د خوندورې يخني ښوروا وړ يې، پاسته هډوکي به دې ما ته هم را ورسېږي.

چرګې ناره کړه.

-ډېر مردار مخ دې دی.

پيشو پر خپلو شونډو سره ژبه تېره کړه:

-چرګې مخ دې تور، سپينه وغړېدم، ته ووايه، د تېرو دريو هيلو هډوکي مې ونه خوړل؟

چرګه غلې شوه، د هيلی ژړا زور ونيو.

سېرلي چيغه کړه:

-غوړونه مو را وخوړل. خوب ته مې پرېږدئ که نه!

د سطل کړنګا راغله. چيغې شوې.

چرګې هيلی ته اشاره وکړه. دواړو د دېوال تر لوی سوري دباندې وکتل، يوه ځوانه نجلی د رنګ سطل تر څنګ ناسته وه، ژړل يې، خپل سر ته يې لاس نيولی و. په عمر پخې ښځې له خپلو ګوتو د نجلی تور وېښته جلا کول.

ښځې يودم چيغه کړه:

-وه غلې، کاسيرې! سل وارې مې درته وويل چې په دې نرې، ګاچ ټيکري کې د باندې مه وځه، خو ته د سړي لور نه شوې. تر دې خو چې لوڅه کارېز ته لاړه شې.

ښځه غلې شوه. يودم يې وويل:

-ما ته وګوره، يوولس وارې لنګه شوې يم، تر اوسه مې خدايکه له خپل سړي پرته يو وېښته هم چا ليدلی وی. د شپې هم له ټيکري سره پربوځم، ښکلې په پرده کې ګرځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجلۍ ژړل...

ښځې چیغه کړه:

-له مخې مې ورکه شه! بیا دې په دې نري ټیکري کې و نه وینم!

نجلۍ کوټې ته ننوته.

ښځې غټ دېګ ور واخیست، د غوا غولانځو ته په جګو پښو کېناسته. د شیدو له لومړۍ دارې سره د پیشو غږ راغی:

-کوکوګله بیا ولې داسې سره اېشې؟

چرګې ور وکتل، پیشو یې تر څنګ ولاړه وه.

پیشو وویل:

-د دې خلکو ټول کارونه همداسې دي، سر ته یې پام وي، کونې ته نه. د کوکوګلې خیشتک ته وګورئ. پرې دی. دا خو په رښتیا هم ښکلې په پرده کې ګرځي.

چرګه او هیلۍ بېرته شا ته شوې. پیشو هم ورپسې ورغله. هیلۍ وویل:

-دا څوک وه؟

چرګې وویل:

-کوکوګله، د رحمدل ښځه.

غلې شوه.

پیشو ور غږ کړل:

-ولې یې زړه ور اوبه کوې، ټوله کیسه ورته وکه.

چرګې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–څه ورته ووایم؟

–ورته ووایه چې دا د رحمدل مشره ښځه ده، رحمدل یوولس اولادونه ترې پیدا کړل. دوه زامن او نهه لوڼې، خو کال مخکې یې پېغله لور په بدل ورکړه، نوې ښځه یې راوسته. رحمدل وایي چې دوه زامن مانا یو زوی، یو زوی یانې هیڅ. ښه او بده پېښېږي، نارینه باید یو درجن زامن ولري.

چرګه په خبره کې ور ولوېده:

–نو دا کیسې ولې هیلۍ ته کوې؟ د هغې یې پرې څه؟

پیشو وویل:

–هیلۍ باید هغه څوک وپېژني چې دا خوري، اخ! رحمدل نو د غوښې شوقي دی، میاشت مخکې یې د ژوندي پسه پر لم غاښونه ټینګ کړل.

د هیلۍ روغ وزر ولړزېد.

چرګې وویل:

–هیلۍ! چرت مه خرابوه، لوڼې یې خوړې دي.

پیشو وویل:

–نو په دې وطن کې خوارې خلک کله واک لري!

هیلۍ په ژړا کې وویل:

- باید له دې ځایه لاړه شم.

پیشو وخندل:

–داسې خبره وکه چې له عقل سره جوړه وي، د رحمدل کور څلور هسک دېوالونه لري، ور هاخوا باغ دی، ځه! له باغه هم واوښتې، له غوربور سره به څه کوې؟ له سپږمو یې ان په غره کې هم نهشې خلاصېدای.

هیلۍ چرګې ته نا امېده سترګې ور واړولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چرګې وویل:

–دومره ځان ناګاره مه اچوه. غوړوور دې  لیدلی دی، د رحمدل ښکاري سپی.

د هیلۍ ژړا تېزه شوه.

چرګې وویل:

–راځه چې باغ ته لاړې شو، پام به دې غلط شي.

هیلۍ په ژړا کې وویل:

–دباندې مو پرېږدي؟

–هو، یوازې سېرلی منع دی، د تاکونو پاڼې خوري.

د پیشو غږ راغی:

–هیلۍ، که زما منې د رحمدل له سترګو لرې ګرځه! د دې خلکو د پام کار دی، وبه دېویني، یو وار به یې د هیلۍ ښوروا ته زړه وشي.

چرګې ورو وویل:

–هلئ بچیانو خوب مو ډېر وکړ. راځئ! باغ ته ځو.

د چرګې د ټټر له پستو بڼکو دوه ژېړ چرګوړي را ووتل. چرګه مخکې شوه، له سېرلي پرته ټول له سوري ووتل. هیلۍ شا و خوا وکتل، یوه دېوال ته کتار خامې کوټې ولاړې وې.

پیشو ژېړې غوا ته ور وګرځېده. و یې ویل:

–غوا غولنې! ډېر مغرور مخ دې نه دی نیولی!؟

د غوا غټې سترګې رډې را وختې.

پیشو وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–ولې داسې په ټره کې يې؟ څه دې کړي؟ په هضم شويو خوړو له سره شخوند وهې.

غوا رمباړه کړه:

–اخ! تږلې يم، که نه درکې ختلم.

پيشو وويل:

–شکر! ځينې کسان همداسې تږلي ښه دي.

په چرګه او هيلۍ پسې چابکه روانه شوه.

له کوره باغ ته کوچنی ور ور پرې و. په کور کې شين ډکی نه ښکارېده، خو باغ ګڼ تاکونه لرل، بل سر ته يې د توتانو زړې ونې ولاړې وې.

هيلۍ يو ناڅاپه منډه کړه، د لښتي رڼو اوبو ته ور ولوېده. اوږده ژېړه مښوکه يې د وزر په لندو ښکو کې ننه ايسته.

چرګې ورغړ. کړل:

–په اوبو کې همداسې لاندې ځه! لښتی د توتانو سيوري ته تللی دی.

چرګې يو دم چيغه کړه. په منډه د خپلو چرګوړو مخې ته ودرېده، سترګې يې رډې راوختې، شا و خوا يې وکتل، سره ساه يې وايسته، د يوه چرګوړي له ژېړې مښوکې يې د انګورو غوره لرې کړه. ورو يې وويل:

–پام ! دنيا ته نوي راغلي ياست، فکر کوئ چې ټول مو د مور غوندې مهربانه دي، رحمدل نه پېژنئ! خام به مو وخوري.

پيشو وويل:

–چرګې! زه خو اوږدغوږي ته وايم.

چرګه له خپلو چرګوړو سره د لښتي پر ژۍ روانه شوه.

ناڅاپه د يوه چرګوړي پښه وښويېده، چرګې نارې کړې، هيلۍ په بېړه بېړته را وګرځېده، اوږده غاړه يې ور وغځوله. د چرګوړي وزر يې په خپله مښوکه کې ونيو، وچې ته يې را وايست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چرګوړي وټوخل، چرګې ژړل...

پیشو وویل:

-چرګې! ښه مور نه یې!

سپي وغپل، پیشو ونې ته وخته. سپی لاندې ورته ودرېد. خوله یې پورته ونیوله، څو ځله یې وغپل.

پیشو وویل:

-ډېر بد مخ دې دی. د موږکانو زار (زهر) به درته پیدا کوم.

سپی هیلۍ ته ور وګرځېد. هیلۍ وارخطا وه. سپي خپلې اوږدې شونډې ویړې کړې، هیلۍ ته یې سپین غاښونه ور وښوول، پوه یې کړه چې لرې تګ یې په خیر نه دی.

هیلۍ لړزې اخیستې وه.

سپی روان شو.

چرګې وویل:

-هیلۍ، که ته نه وای، زوی به مې مړ و.

پیشو له ونې را کښته شوه. ټول د توتانو خوا ته ورغلل. نجونې وې، ځینو جامې پرېمنځلې، نورو غالۍ ته برسونه نیولي وو.

یو دم یوې له رنګه سرې پېغلې منډه را واخیسته. هیلۍ یې له اوبو ور پورته کړه، پر خپل مخ پورې یې ونیوله. و یې ویل:

-اخ! ځار، څومره ښکلې.

بله نجلۍ راغله، د هیلۍ وزر یې وکوت. له یوې ټوټې یې تراډه وایسته، وزر یې وتاړه.

دواړې بېرته لندو جامو ته ورغلې.

پیشو وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–په دې کور کې زړه شوم، خو د یوې هم داسې مینه نه راباندې راغله.

چرګې ور غږ کړل.

–نه اخلاق لري، نه رنګ. مینه خو دلیل غواړي.

پیشو ناره کړه:

–خدای خو هسې خره نه يې پیدا کړې، له پتارۍ را دې خوا شه.

هیلۍ مخ ور واړاوه، خره تر یوې ونې لاندې ولاړه وه، لرې ور ها خوا پر یوه ټیټ لرګي باندې ټومبل شوې زړې ټوټې باد رپولې.

هیلۍ چرګې ته مخ ور واړاوه:

–پتارۍ؟

چرګې وویل:

–د رحمدل مشره لور يې همدلته پرېمنځله، دا خلک د مړي د پرېمنځلو ځای ته پتارۍ وايي.

پیشو خرې ته ورغله، ترې را تاو شوه، و يې ویل:

–زړه مې دی چې په دا تور کوناټې دې کلکه خوله در ولګوم.

چرګې ور ناره کړه:

–وه مردار خورې، پخوا خو داسې بې‌ادبه نه وې، څه درباندې وشول. لکه چې دا پوچې خبرې دې له رحمدله زده کړې!

پیشو وویل:

–خرې ته دې پام دی!؟ داسې مظلومه قواره يې نیولې چې ستا به هم غوسه ورته راشي.

چرګې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-تر تا خو اوس هم ښایسته ده، ورته وګوره، غټې تکې تورې ښوري سترګې لري.

پیشو وویل:

-سترګې یې څه کوې، دومره غټه ده، خو پرون کوچني سپي سپکه کړه، د زړه دربا بې رحمدل هم اوربدله.

خرې وویل:

-نو څه مې کړي وای؟

-یو څه زړوره شه.

-څنګه؟

-اوس به یې در وښیم.

پیشو ونې ته وخته، سپي ته یې ور ناره کړه:

-اوږد غوږې، خرې کنځلې درته وکړې.

سپی په سترې سا راغی.

پیشو وویل:

-خره وایي چې د سپي ډېر سپی مخ دی.

سپی وغرېد.

-خرې، رښتیا؟

نږدې ورغی. د خرې اوږده غوږونه لړزېدل.

پیشو وویل:

-خرې! شا ور واړوه، خولې ته یې سمه مضبوطه لغته ورکه.

خرې له وېرې ډکې سترګې پورته پیشو ته ونیولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشو وویل:

–زما خبره ومنه. نه تاواني کېږې.

خره يو وارې پورته وغورځېده، سپي کوړنچ وهل، پر ونه ورغی، درب. ولوېد. بېرته پورته شو، منډه يې واخيسته.

پيشو له ونې را ټوپ کړل، خرې ته ورغله:

–ځومره اسانه وه. عاجزي هر وخت په درد نه خوري. د سپي به دا لغته ټول عمر په زړه وي. بيا به پورته درته و نه ګوري.

هيلی نجونو ته وکتل، و يې ويل:

–چرګې! دا ټولې د رحمدل لونې دي.

پيشو چيغه کړه:

–چوپ.

پرېوته، پر چمن يې غوږ کېښود. ګڼو وښو ته پر ټټر ور وښويېده، يوه شېبه غلې وه، بيا يې يو دم ملا سره راټوله کړه، ټوپ يې کړ. بېرته راغله. په غوسه يې وويل:

–چرګې، دا تا هوښيار کړي دي.

–څوک؟

–موږکان. زما تر ټوپ له مخې سوري ته ننووت. پرون هم له يوه سره غرېږدې.

هيلی وويل:

–موږک له تا ډارېږي، ته له سپي، ولې؟

پيشو لمر ته پرېوته، و يې ويل:

–هيلۍ! ته خو تر خرې هم  کم عقله يې. موږ د يو بل دښمنان يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

–خو ما څو ځایه موږک، پیشو او سپی ګډ سره لیدلي دي، د انسانانو په کورونو کې اوسېدل، د یو بل ښه دوستان وو.

چرګې ورو وویل:

–هیلی! ستا لپاره وایم. بل ځای داسې ساده خبره مه کوه!

د خندا غږ راغی، دواړو ور وکتل، پیشو په چمن کې رغړېدله. وروسته یې په خندا کې وویل:

–هیلی! څه دې وفرمایل؟

–څه چې دې واورېدل، خو زه رښتیا وایم، ما نیمه دنیا لیدلې ده، په ډېرو ملکونو کې مې د خلکو په منځ کې ژوند کړی.

د پیشو خندا زور ونیو.

چرګې وویل:

–هیلی! پټه خوله دې ښه وه. هوښیاره مالومېدې.

هیلی وویل:

–رښتیا وایم. هر ځای خو رحمدل دوی نه‌شته چې د هوا مرغان لا نه دې ترې پاتې. په نوره دنیا کې انسانان د مرغانو عزت کوي. خوراک ور اچوي، له لیدو یې خوند اخلي. ما ته وګوره، تېر ټول منی مې د یوه ښار په منځ کې تېر کړ. لوی پارک و. پراخ ډنډ یې درلود، سلګونه مرغان پکې اوسېدل. ما په خپله مښوکه د انسانانو له لاسونو بیسکېټ را اخیستی دی.

پیشو وویل:

–هیلی، ګوره! زه خره نه یم.

خرې وویل:

–پیشو، لغتې ته دې زړه شوی؟ دا څووم ځل دی چې ما توهینوې.

پیشو وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–خرې! توبه مې ده، کاشکې مې نه وای زړوره کړې. د ځینو پوهول تر ګټې، تاوان لري. ښه هیلی! چټیاټ دې خلاص شول؟

هیلی وویل:

مه یې منئ، خو له مورې سره به انسانانو عکسونه اخیستل. د چا له لاسه چې به مو ډوډۍ واخیسته، خوشاله به وو.

هیلی غلې شوه. چرګې ته یې وکتل، و یې ویل:

–ځواب دې را نه کړ، دا ټولې نجونې د رحمدل لونې دي.

–هو. خو هاغه یوه یې دویمه ښځه ده.

–کومه؟

–هاغه چې تر نورو یو څه ګوښې جامې پرېمنځي. هاغه د سره مخ، شنو سترګو او ژېړو وېښتو واله در ښیم.

هیلی وویل:

–هغه خو وړه نجلی ده.

–بس! د رحمدل د دویمې لور همزولې یې وګڼه. خو و یې کړه.

هیلی نجونو ته وکتل، و یې ویل:

- په نوره دنیا کې په دې عمر د نجونو خولې له خندا نه سره ټولېږي، خو دوی تروې ټندې نیولې. ولې؟

–دا نجونې له خندا منع شوې دي. هاغه د تور ټکري نجلی وینې؟

–هو، سپین مخ او خړې سترګې لري.

–نه، ور ها خوا. هاغه شین خالی چې له ټېکري یې پېچلې وېښته را وتلي.

–و مې لیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

–میاشت مخکې بې په ګودر کې په زوره خندلې وو. دا خبره یوې کلیوالې کوکوګلې ته کړې وه. کوکوګلې د دې نجلۍ مخ پر ځمکه ور وسولاوه، ورته ویل یې چې ولې داسې مسته یې. یارانې ته دې زړه شوی.

دلته د نجلۍ له خندا هم د شهوت مانا اخیستل کېږي. خندا یانې بې‌حیایي.

پیشو وویل:

–چوپ شئ، د موږک چونګا نه اورئ!

ټول غلي شول.

یو دم په اوبو کې چړپا شوه. ټولو ور وکتل، یوه دوولس کلن هلک دویمه نجلۍ هم لښتي ته ور ټېله کړه، دوې نجونې په بېړه له اوبو راوختې. هلک خندل، خو لندې نجونې لړزې اخیستې وې. یوې یې ژړل.

پیشو وویل:

–زما سترګې تر تاسې تېزې دي، د نجلۍ شونډه وینې ده، په هماغه ځای کې د لښتي ژۍ راوتلې تیرېږي لري.

هیلۍ وویل:

–نجونې ولې څه نه ورته وایي؟ دواړې تر هلک پیاوړې دي، یوه یخ رپوي، بله ورته ژاړي.

پیشو وویل:

–دا باتور نومېږي.

–څه مانا؟

–یانې تورزن، بس، سرونه پرې کوه. د دې خلکو ډېر نومونه لا وحشتناکه دي. باتور د کوکوګلې دویم زوی دی. نجونې د رحمدل او کوکوګلې له ډاره څه نه‌شي ورته ویلای. یوه ورځ یې یوې خور له باتور سره مازې خبره اړولې وه، پلار یې شنو لښتو ته واچوله، ویل یې چې تاسې ټولې یوه خوا، باتور بله خوا. ټولې به د باتور بچک پښو ته حلالې کم.

چرګې وویل:

–هاغه دی، رحمدل هم راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تاکونو کې یو چاغ سړی ودرېد. ګېډه یې تر ده نیم ګز مخکې را وتلې وه.

پیشو وویل:

–هیلی، همدې سړي ښکاري ټوپک درته ونیو، چخړنه سترګه یې پټه کړه، ټک، چیووووو، بوڅه یې را واړولې.

هیلی تر ونې پټه شوه.

پیشو وویل:

–زړه دې غټ ونیسه! له دومره لرې دې نه ویني.

یو دم د کور د خوا له دروازې یو ځوان راغی. له رحمدل سره ودرېد. څه یې وویل، بېرته تر دروازې ووت.

پیشو وویل:

–دا یې مشر زوی دی، یو ویشت کاله عمر لري، غیرت نومېږي، خو د شپې له ډاره بولو ته نه‌شي را وتلای. تر اوسه لا کوکوګله په چوتره کې ورته ولاړه وي.

غلې شوه، له لرې یې رحمدل ته وکتل، و یې ویل:

–د رحمدل برېتونه داسې په اسانی نه ځړېږي. یوه خبره خو شته.

بېرته دباغ دروازه خلاصه شوه. غیرت یو پسه تر غوږونو نیولی و.

پیشو وویل:

–باید پوه شم.

تر لښتي یې ټوپ کړل، د تاکونو په جووه کې یې منډه واخیسته. پسه ته نږدې ودرېده.

رحمدل وویل:

–غیرته زویه! ولې ورته ګورې!؟ مریض پسه چا جوړ کړی! ورشه، چاړه راوړه!

پیشو پسه ته ور نږدې شوه. و یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-سر خو دې غټ دی. څه بلا وهلی یې؟

پسه مړې سترګې ور واړولې:

-ښه نه یم، د خولې خوند مې بد دی، دا دوې ورځې مې د وښو څکه نه ده کړې.

غیرت اوږده چاړه راوړه.

رحمدل په جګو پښو کېناست. چاړه یې یوې ښوې ډبرې ته ونیوله.

پیشو وویل:

-شېبه وروسته به په همدې چاړه مری در پرې کړي.

پسه وچونګېد. سترګې یې له اوښکو ډکې شوې.

غیرت وویل:

-شیرین اغا! په دې پسه مو د خدای زور پیسې ورکړې دي، پوره لس زره اوغانۍ. یو څه وخت به لا نور هم ورته وګورو.

رحمدل وویل:

-نه وینې چې سېکه یې ختلې ده؟

پیشو وویل:

-پسه! غواړې چې له چاړې خلاص شې؟

پسه وویل:

-هو.

-په رحمدل منډه ور واخله. مناسب ناست دی، غټه ککرۍ دې د رحمدل کوناټو ته سیخېدای شي.

پر پسه لړزه راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشو وویل:

–هسې دې هم وژني، زما خبره ومنه.

–له وسه مې نه کېږي.

–بس، د ژوند لپاره دې وروستی قوت سره را ټول که.

پسه، د مخې په پښه ځمکه وګروله، چټکه منډه یې واخیسته، درب شو. رحمدل د انګورو تر یوې پښتې هوایي تېر شو، په دویمه کې یې دوړه پورته شوه.

غیرت په خوشالي ناره کړه:

–شکر خدایه! پسه جوړ تیار دی، له تاوانه بچ شوو.

دوړه کېناسته، د رحمدل پټکی په غاړه کې پروت و، پکه ککرۍ یې له خاورو نه برېښېده.

پیشو، پسه ته ورغله، و یې ویل:

–په دنیا کې کمزوری مخلوق ژوند نهشي کولای، زړور به یې. هله، مازې د یوه تاک پاڼه په خوله کې ونیسه. دا به دې د اشتها د درلودو نښه وي.

پسه په زحمت یوه پاڼه ور وشکوله، مازې څوکه یې په غاښونو کې تکیه کړه.

پیشو ور غږ کړل:

–اوس نو لږ موسک شه، خندا یانې د پوره صحت نښه.

پسه سپین غاښونه را وایستل، پاڼه ولوېده. غیرت یې تر غاړې لاس تاو کړ، له پسه سره کلا ته ننوت.

پیشو بېرته د توتانو سیوري ته ورغله. و یې ویل:

–چرګې، هیلۍ څه وایي؟

چرګې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-ناپړیتې ولې. وایي چې دلته ولې نجونې مکتب ته نه ځي؟

پیشو په چمن کې اوږده وغځېده. خرې ته یې وکتل:

-سپږمې خو دې غتې دي، وږې یم، د کوم موږک بوی دې نه دی حس کړی؟

خرې په غوسه ور وکتل.

هیلۍ وویل:

-رښتیا وایم.

پیشو وویل:

-څه؟

-په نوره دنیا کې نجونې درس وایي، دا نجونې ولې له مکتبه پاتې دي؟

پیشو کښناسته:

-هیلۍ! ډېره ساده ګله یې، کم عقلې پوښتنې مه کوه. دلته لا هلکان په سخته مکتب ته پرېږدي، نجونې خو پرېږده.

یودم ودرېده، وېې ویل:

-راځه!

هیلۍ ګردې حیرانې سترګې ور واړولې:

-چېرته؟

-راځه چې د دې وطن د نجونو د ژوند مازې یوه ځنډه در وښیم.

رهي شوه. دواړې پتارۍ ته ودرېدې. پیشو وویل

-دا نجیبه نومېده. تر شیدو سپینه وه. تر پنیر پسته. شنې، غټې رڼې سترګې یې درلودې، په هفتو هم نه لمبدېده، خو اوږده تور وېښته یې خدایي ځلېدل. د زیږو وېښتو هر تار یې د خیاطي د ګوګړۍ تر تاره ډبل و. درې کاله مخکې یو دم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناروغه شوه. سترګو یې تورې حلقې پیدا کړې. نه یې ډاکټر ولید او نه یې چا پوښتنه وکړه. نجلۍ ورو ورو ډنګرېدله، اخېر یوازې پوستکی پاتې شوه.

مور او پلار یې خفه وو، خو د نجلۍ ناروغي یې زړونه نه خوړل، بله اندېښنه ور لوېدلې وه. دلته چې څو مشره خور نه وي واده شوې، دویمه یا درېیمه یې څوک نه غواړي.

څلور هډوکې ناروغې نجیبې ته به نو کوم رویبار راته!

وخت ووت. د نجیبې له رغېدو یې هیله وخته، دواړو د نجلۍ مرګ د کور پرده ګڼله.

یو سهار مې د کوکوګلې چیغې واورېدې، ورغلم، نجیبه مړه پرته وه. خدای خبر، ما لا تبر مازدیګر ولیده. په ولاړو یې لمونځ کاوه. سجدې ته چټکه ورتله.

نجیبه یې همدلته پرېمنځله، مور یې د نورو ښځو تر مخ خاورې بادولې، ځان یې له خوراکه لوېدلی ګاڼه، خو ما پخپله ولیده، پټه به دالان ته ولاړه، د پنځو نفرو حق به یې وخوړ. د دې خلکو ټول کړه وړه لباسي دي.

پیشو غلې شوه.

هیلۍ وویل:

–خو د نورې دنیا خلک داسې نه دي، یوه ورځ مې په ډنډ کې لامبو وهله. څلور کسان راغلل، ښځه، سړی او دوې وړې نجونې. نجونو په توپ پسې منډې کړې، خو سړی او ښځه نږدې د لرګي پر اوږده څوکۍ راته کېناستل. له خبرو یې پوه شوم چې د نجونو مور او پلار دي. دواړه د خپلو اولادونو په صحت غږېدل، نجونې تکې سرې، چاغې، روغې جوړې وې، خو دوی سره ویل چې د نجونو د ډاکټر د چیک اپ وخت را نږدې دی، له بانکه پور اخلو، دواړې باید له سره تر پښو معاینه شي.

پیشو وویل:

–خو رحمدل او کوکوګله داسې نه دي. راځه.

دواړې لښتي ته ورغلې، نجونو ته نږدې کېناستې.

پیشو وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–د رحمدل دويمه لور بې په بدل ورکړه، تېره مياشت راغلې وه، مور ته بې بدې ورځې کولې، ويل بې چې پنځوس کلن مېړه مې پوډري دی، د ورځې مې درې ځله لښتو ته اچوي، په کور کې بې هيڅ هم نه را پرېښودل، زما له دې ځايه وړې د واده ګاڼه خو پرېږده، ان پيالې بې لا خرڅې کړې، خو مور بې ورته وويل چې نه، مېړه حق درباندې لري، خپل کور بې دی، که دې مړه هم کړي، عزت ته به بې ګورې.

لور بې چيغې وهلې، ويل چې خبره له عزته تېره ده، ټوله ورځ د ولسوالي په بازار کې سوال کوي، په خاورو او ډېران کې له سپو سره پروت وي... خو کوکوګلې ورته ويل چې له خپل نصيبه بې وګڼه، اوس دې نصيب په هماغه کور کې ليکل شوی دی، جنازه به دې ترې وځي. دا خلک خپل ټول حماقت يا په نصيب ور اچوي يا په شيطان.

پيشو غلې شوه. و بې ويل:

–دا مخامخ بې درېيمه لور ده. سايره نومېږي.

يو دم بې هيلی ته وکتل:

–ته يو وار لمر ته شه.

هيلۍ حيراني سترګې ور واړولې.

پيشو وويل:

–نه دې خورم.

هيلۍ لمر ته ودرېده.

پيشو وويل:

- وزرو دې اوه رنګه رڼا پيدا کړه، اوس نو د سايرې وېښتو ته وګوره! ستا د وزرغوندې ځلېږي، خوارکۍ نه ده خبره، رحمدل بې په پټه د سودا خبره کړې. بس! مالګه (شيريني) بې يوازې جوړجاړې ته ماتله ده، رحمدل يو ويشت لکه ولور غواړي، کونډ تر اتلسو لکو ور پورته شوی دی. کونډ له اولې ښځې هم اولاد نه لري. ډاکټر ورته ويلي دي چې مشکل په تا کې دی، وچ بې، خو کونډ بې نه مني. خير، کونډ څه تاوان کوي! که بې اولاد ورته پيدا کړ، وا وا، که نه، په داسې ښکلې پېغله خو به بې سات تېر وي، که وتښتېده، وابې به چې مرداره ده، هلئ، ولئ بې.

د لته د نجلی د مرګ پوښتنه نهشته. بس! يوازې د مردارې ټکی ور پورې وتړه. ټک، پر تندي بې وله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلی وویل:

–خو په نوره دنیا کې نجلی خپل واک لري، تر اتلس کلنی خو بې قانوني ودېدا جواز نه لري، وروسته بې هم خپل زړه. واده کوي، نه بې کوي، څه وخت بې کوي، له چا سره بې کوي! خپله خوښه بې ده.

پیشو وویل:

–دا خبرې نو بیا رحمدل دوی ته کوپر ښکاري. اوس پوه شوم چې په رښتیا دې نیمه دنیا لیدلې ده. رحمدل خبرونه نه قضا کوي، ډېر وخت راډیو اوري، زه هم کله کله ورته ناسته یم. یوه ورځ بې په راډیوکې هم ستا خبره وکړه، خو رحمدل نسوار تو کړل، د راډیو ستن بې واړوله، په غوسه بې وویل چې د انګرېز بچیان د کوپر قانون راښیي.

پیشو غلې شوه، دریو نورو نجونو ته بې وکتل:

–زرمینه، نوریه او ګلالۍ هم هاغه دي غالۍ پرېمنځي، غټوکې ښکاري. نورې دوې وړې خویندې بې په کور کې دي. یوه بله بې په وړکتوب کې مړه شوه، د دوو میاشتو وه، کوکوګله په خوب کې وربانديې ور اوښتې وه.

واښه وښورېدل. پیشو ور وکتل، د خرې ډنګرې پښې وې.

پیشو وویل:

–خرې، اعصاب مې مه را خرابوه، بیا به وایې چې دربانديې ګرمه یم. لرې لرې ودرېږه، د خولې دې بد بوی ځي.

چرګه هم له خپلو بچوڼو سره راغله.

هیلی وویل:

–د رحمدل دا دویمه ښځه ښایستوکې ده، خو غاړه بې سره ښکاري، ولې؟

پیشو وویل:

–نیازۍ نومېږي. دا د رحمدل د څپېړې نښه ده، رحمدل درانه لاسونه لري، خدای که بې د څپېړې نښه میاشت هم ورکه شي.

هیلی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-ولې؟ نیازي څه کړي وو؟

-پیشو چرګې ته وکتل:

-چرګې، چوچوڼي دې لرې که، بیا راته و نه وایې چې بې‌ادبه یې، د ماشومانو خبرې نه دي.

چرګه له خپلو چرګوړو سره لاړه.

پیشو وویل:

-دوې شپې مخکې دباندې په خوړو پسې ګرځېدم، شپه وه، خو سپوږمۍ ته د موږک برېت هم ښکارېده. د رحمدل غوسه‌ناک غږ راغی، په کړکۍ کې ورته کېناستم. یو ځای پرده چوله وه. رحمدل له نیازي مچکه غوښته، ساده مچکه نه وه، له شونډو یې خوله اخیسته، خو د نیازي زړه نه و. رحمدل ته غوسه ورغله، له ناړو سره یې شنه نسوار بادېدل. بیا یې د ښځې غاړې ته کلکه څپېړه ورکړه. ویل یې چې یا د مېړه حقوق نه دي در مالوم، یا کوم بل یار لرې.

خرې وویل:

-نیازي ملامته ده، ټکه خو نه لوبېده. پردي سړي خو خوله نه ترې غوښته.

پیشو ور وکتل، له ډېرې غوسې یې د برېتو تارونه نېغ ودرېدل. و یې ویل:

-خرې، سترګې دې پټې کړه.

خرې په حیراني ورته کتل...

پیشو وویل:

-زما خبره ومنه.

خرې سترګې پټې کړې.

پیشو وویل:

-همدا اوس دې په ذهن کې د رحمدل څېره در تېره که.

-را تېره مې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

–رحمدل درغی.

خرې وویل:

–راغی.

–مخ ته بې خپلې غتې، له وېښتو ډکې سپږمې او تورې ډبلې شونډې در نږدې کړې.

–دا بې را نږدې. نو څه!؟

–یو دم بې ستا پر پلنو تورو شونډو، خپلې لندې شونډې کېښودې. د رحمدل له نسوارو ډکې ترخې لاړې خولې ته درغلې...

خرې کانګې کړې، مخ بې واړاوه. تر ډېره بې زړه هسکېده.

هیلۍ وویل:

–بدمرغه ښځه. له دې سره به څوک شپه تېره کې.

پیشو په خبره کې ور ولوېده:

–ولې نصیب!؟ نصیب به شپه ورسره تېروي، دا خلک هر څه په نصیب پورې تړي، رحمدل بې په نصیب کې و. نیازۍ به تر مرګه همدې مردارخور نصیب ته ناسته وي.

هیلۍ وویل:

–په نوره دنیا کې هم ښځه او مېړه له یو بله مچکې اخلي، خو دوی تر ویدېدا مخکې غاښونه پاک پرېمنځي. د دواړو په سرو شونډو او سپینو غاښونو د چا مینه راځي. ان ځینې بې له ګډې ویدېدا مخکې تر اوبو وځي، سپري وهي.

پیشو وویل:

–خو دلته رحمدل دوی دي. له تخرګو به بې د خولو خوړسکې خېژي. خوله به بې د تفداني بوی ورکوي، له اتلس کلنې نجلۍ به خوله غواړي. توبه.

غلې شوه، و بې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–ورته وګوره! د نیازۍ سرې شونډې او سپین غاښونه به دې د رحمدل پر تورو شونډو او چینجنو غاښونو ولورېږي!؟ د رحمدل تر پنډو تورو شونډو خو د خرې شونډې ښایسته دي.

پیشو خرې ته وکتل، و یې ویل:

–خرې! تا ته به خوله درکم، خو رحمدل ته نه.

خرې ته غوسه ورغله.

–نه کرارېږې؟

چرګه له خپلو چرګوړو سره راغله، و یې ویل:

–پیشو! مردارې خبرې دې خلاصې شوې.

پیشو وویل:

–که څوک واقعیت ووایي، مردارې یې بولي.

د رحمدل ناره راغله:

–وه د غوا لورانو، ډوډۍ نه راوړئ، سره غرمه مو کړه.

ټولو ور وکتل، رحمدل د تاکونو په منځ کې را روان و. نجونې ودربدې، هیلۍ تر خرې پټه شوه.

رحمدل راغی، یو دم یې چیغه کړه.

–څه د سپي سترګې مو راته نیولې دي، انسان مو نه دی لیدلی. یوه ګوله زار (زهر) راوړئ که نه؟

پیشو په ملنډو وویل:

–اه! انسان!؟ په هر چا پورې د انسان نوم پورې وي.

نیازۍ سپین لاسونه لښتي ته ور ټیټ کړل، د روانو رڼو اوبو سر د پوډرو څګ واخیست. ښځه د ورې دروازې خوا ته ورغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمدل د ونو سیوري ته پر لیمڅي کېناست. کرپیا راغله، یوې ورې نجلۍ تر ځان غټ چلمچي را اخیستی و. تر شا یې بله نجلۍ له دسترخان سره را روانه وه.

هیلۍ وویل:

–رحمدل همدلته ډوډۍ خوري؟

پیشو ځواب ورکړ:

–هو، پخوانی عادت یې دی، د هوا له ګرمېدو سره یې د غرمې ډوډۍ په باغ کې وي.

رحمدل چیغه کړه!

–څه ته ګورې!؟

ورې نجلۍ له لښتي بدنۍ ډکه کړه. چلمچي یې ورته کېښود، د رحمدل له لاسونو خړې اوبه تویې شوې.

هیلۍ وویل:

–رحمدل خو په لښتي کې هم خپل لاسونه پرېمنځلای شوای. دوه ګامه لرې نه دی، دې ورې نجلۍ ته وګوره! له کوره یې تر ځان غټ چلمچي راوړ.

پیشو وویل:

–دا نو بیا رحمدل ته خوند نه ورکوي، دا خلک په چلمچي کې خپل عزتویني.

نیازۍ له دوو کاسو سره راغله، ټوډه یې ووهله، خو ځان یې قابو کړ.

رحمدل ور ناره کړه:

–ولې دومره هوایي یې، څه خبره ده! کوم یار دې در په زړه شو! ځمکې ته نه‌شې کتلای؟

ښځې دسترخوان هوار کړ، غبرګې کاسې یې پرې کېښودې.

پیشو پر خپلو شونډو ژبه تېره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-اخ! د پسه سر.

هیلۍ ور وکتل، په یوه کاسه کې له لندې ډوډۍ مړ تاو پورته کېده، بله د پسه سلامت پوخ سر نیولې وه.

پیشو وویل:

-خرې! شکر وباسه چې حلاله نه یې، که نه اوس به دې له کاسې تورې سپړمې راوتلې وې.

خرې یوازې ور وکتل.

د رحمدل دواړه زامن راغلل.

مشر یې دسترخوان ته ورغی، باتور هیلۍ له ځمکې ور ور واخیسته، و یې ویل:

-والوځه.

هیلۍ یې پورته واچوله، پر ځمکه ولګېده، کغ یې کړل.

باتور دسترخوان ته ورغی.

هیلۍ د پیشو تر څنګ عاجزه ودرېده، سترګې یې ډکې وې.

پیشو وویل:

-خوا مه بدوه، د دې خلکو همدا ساتېري ده.

د رحمدل غږ راغی:

-باتوره بچکه! لاس درنه هېر شول.

هلک چلمچې ته کېناست.

رحمدل ناره کړه!

-مړې سترګې دې راته نیولې دي، ړنده یې، هلک ته د لاس اوبه ور واچوه.

نیازۍ په منډه راغله، بدنۍ یې ور پورته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رحمدل له لاړو سره لنده ډوډۍ باد شوه:

–لانت ( لعنت) دې پر تا وي، ډېرې سپې سترګې دې دي، ښوروا ټکی مالګه نه لري.

نیازۍ لړزې اخیستې وه.

رحمدل کاسه پورې وهله، غوښه یې ور نږدې کړه.

پیشو وویل:

–مخ دې بې تور شي، غوښې ته یې چل جوړاوه.

پیشو ځوانې ښځې ته وکتل، د ښځې ډکې سرې شونډې سره سرېښې وې، خو له سترګو یې مرې اوښکې بهېدلې.

پیشو وویل:

–بلا دې پرې وګرځه.

د هیلۍ غږ راغی:

–په کاسه کې سلامت سر پروت دی، دا خو به سړي وخوري، ښځو ځان ته بل دېګ باندې کړی؟

پیشو وویل:

–نه، ښځې به په پاتې شوې ښوروا کې یوه بدنۍ اوبه ور اضافه کړي، دوی ته یوازې لنده ډوډۍ ور رسېږي.

–ولې؟

–مه پسې ګرځه. نیازۍ ته وګوره، سلامت رحمدل یې په یوه اوښکه نه ارزي.

غلې شوه، و یې ویل:

–که مې واک درلودای، رحمدل مې یې پښو ته حلالاوه. اخ! نصیب، نصیب، نصیب. د رحمدل سترګو ته وګوره! د کربوړې غوندې ګردې سترګې یې یو تار باڼه نه لري، خو د ښځې ښورو غټو سترګو سم سیوري جوړ کړي دي، ورته ځیره شه، لمر یې پر سر ولاړ دی، پر نیمایی غومبرو یې د بڼو سیوري راغلي دي. هیلۍ! غاړه یې ستا تر غاړې اوږده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده، خو د رحمدل سر په اوږو پورې نښتی. د رحمدل پښې دې خدای نه در ويني، پرون بې د پوندو چاودو ته ستن نيولې وه، ګنډلې بې.

پيشو غلې شوه، و بې ويل:

–که ښايسته ځوان وای، همدا اوس مې د رحمدل سر د لښتي په اوبو کې مانډه، ده به له چاودو ډکې پښې وهلې، لاسونه به بې خوځول، په اوږدو خيرنو نوکانو به بې ځمکه کيندله، خو ما به تر هغو نه پرېښوده چې په اوبو کې بې له تورو شونډو اخېري ډومبک نه وای راوتلی. بيا مې نيازۍ په غېږ کې اخيسته. د باغ تر دېوال مې اړوله. غر، ځنګل، دښته، فرق بې نه کاوه، خو داسې ځای مې وړه چې بنيادم نه وای.

ما به د نيازۍ پر زنګانه سر ايښوده، خلاص، پاسته وېښته به بې زما پر مخ پراته ول، دې به مچکې رانه اخيستې، ما به نخرې کولې، اخ، څه عاشقانه فضا!

غلې شوه. و بې ويل:

–توبه! ښه ده چې انسان نه يم، رحمدل به وای.

چرګې او هيلۍ وخندل.

پيشو وويل:

–خرې! ستا وربوز ولې ځړېدلی دی. تر اوسه مې يو ستا خندا ونه ليده يو د رحمدل.

د رحمدل غږ راغی:

–دا سر مات که.

نيازۍ په لړزانده ګامونو ورغله. د پسه سر بې ور واخيست، لښتي ته نږدې بې ډېره ورته ونيوله. بېرته راغله، د پسه ککرۍ بې څنډ وهله، په کاسه کې سپين چکی ماغزه ولوېدل.

رحمدل په خوند وويل:

–باتوره بچکه! درواخله، ماغزه به دې قوي شي.

هيلۍ وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

باتور مکتب ته ځي؟

–پیشو ور وکتل:

–نه، تر ځلورمه یې ووایه، پلار یې منع کړ، ویل یې چې په مکتب کې به څه زده کې.

هیلی وویل:

–ښه، ما فکر کاوه چې د درس د زده کېدا لپاره به قوی ماغزه ورته غواړي

پیشو وویل:

–که د پسه ماغزو، ماغزه قوي کولای، نو رحمدل به اوس طیارې جوړولې. د ولسوالي په بازار کې یې له یوه قصاب سره ویل کړي، په هفته کې د ترکي پسونو دوه–درې غټ سرونه ورته را لېږي.

وړه نجلۍ راغله، ودرېده، د باتور غټې ګولې ته یې وکتل، پر سپېرو شونډو یې ژبه تېره کړه.

رحمدل وویل:

–تکې سپینې سترګې دې راته نیولې دي. په مخ مې مینه یې.

یو دم یې چیغه کړه:

–ورکه شه!

نجلۍ منده واخیسته، سایرې ته ورغله. خور یې د صابون په اوبو ککړې سپینې متې ترې تاو کړې، پر خپل ټتر پورې یې ولګوله. له تندي یې مچه واخیسته.

د وړې نجلۍ سترګې له اوښکو ډکې وې.

سایرې وویل:

–اه خورې! بس، یو څو جوړه کالي لا تر اوبو باسم، بیا به خوندوره لنده ډوډۍ خورو، سمه ده!؟

نجلۍ هماغسې نا امېده ولاړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سایرې وویل:

–ها، دا ټیکری په اوبو کې ووهه.

رحمدل ناره کړه.

ــسترګې نه لرئ. دا کاسې پښې لري؟ پخپله به ځي!؟

نیازي په منډه ورغله، کاسې او دسترخوان یې ټول کړل، د نارینه‌وو لاسونه یې ور پرېمنځل.

د رحمدل دواړه زامن تش لاس کور ته لاړل.

ځوانې ښځې کاسې او دسترخوان ور واخیستل، روانه شوه. رحمدل پسې ور غږ کړل:

–چای او ټوپک درسره راوړه.

هیلۍ یو دم ړنګه شوه.

پیشو وویل:

–مه وارخطا کېږه، تا ته یې نه دی راغوښتی. رحمدل د ورځې یو ځل خپل چره‌یي ټوپک پاکوي.

رحمدل اوږد ټېغ را وایست. په زوره یې وویل:

–هزار بار شکر.

پیشو وویل:

–بلایي شکر، د وږو نجونو حق دې وخوړ، ګېډه دې تر ستوني ډکه کړه، ډېر خوراک دې په نس کې جوش وکړ، غوټه باد پیدا شو، باد په ډک نس کې د وتلو اصلي لاره ونه مونده، تر خولې دې را ووت. شکرونه دې وایستل.

رحمدل ولاړ شو، ستمی یې خوت. نرډې یې ګنډه خلاصه کړه، کېناست. شېبه وروسته بېرته پورته شو. په رڼه میدان ودرېد، لاس یې په پرتاګه کې ننه‌ایستی و.

پیشو وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–څه کوي! رحمدل څه کوي!؟ له خپلو لوڼو هم نه شرمېږي. وه ده کم‌عقل بچیه، مخ خو دې دېوال ته ور واړاوه، یا تر ونه پټ شه. په هوار میدان لاس په پرتاګه کې خوځوي.

رحمدل لښتي ته ورغی، پرتوګ یې وښویاوه.

چرګې په بېړه د خپلو چرګوړو سترګو ته خلاص وزرونه ونیول.

رحمدل اودس وکړ، بېرته لیمځي ته ورغی، څادر یې هوار کړ.

شېبه ووته، هیلۍ وویل:

–دا خلک څوک دي؟

پیشو حیرانې سترګې ور واړولې.

هیلۍ وویل:

–دین یې ښیم.

–دوی خو وایي چې مسلمانان یو.

هیلۍ وویل:

–ما څو ځایه په نورو ملکونو کې د خلکو لمنځونه لیدلي دي. په کراره یې کوي، ډېر وخت پرې باسي، خو د رحمدل رکوع او سجده سره ګډه ده.

پیشو وویل:

–مه پسې ګرځه. ښه ده! لمونځ خو کوي، خو یو وخت له خدایه ټمبه ګرځېده. ضد نیولی و، ټکی لمونځ یې نه کاوه.

–ولې؟

–ویل یې چې لورانې څه کوم، زامن راکه.

پیشو غلې شوه، و یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–دا خلک لوږې په انسانانو کې نه شمېري، له باتوره راباد د کوکوګلې درې پرله‌پسې لوږې وزبېږېدې. رحمدل خپه و، نه يې لمونځ کاوه، نه خوراک. بيا يوه بزرګ ورته وويل چې د خير کوم لوی کار وکه. رحمدل تر ټولو ډېر ثواب د نجونو د مکتب په سوځېدو کې ليد.

يوه شپه کړپا را وينبه کړم، رحمدل له خپل موټره پټرول ايستل. له ډکې ګيلنې سره دباندې ووت. پسې ورغلم، د مکتب پر اداره يې تېل وشيندل، اورلګيت يې ورته ونيو.

د دې کوچني مکتب درې صنفونه پخوا چا سوځولي وو، اداره او دوه پاتې صنفونه يې رحمدل ته په ثواب کې ور ورسېدل.

پيشو ټوخي واخيسته. و يې ويل:

–هيلی راځه! له خدايه د رحمدل غوښتنې هم په اورېدو ارزي.

هيلی په لړزانده غږ وويل:

–خو تا ويل چې رحمدل ته مه ور نږدې کېږه، د پام کار يې دی، ښوروا...

پيشو په خبره کې ور ولوېده:

–مخې ته خو يې نه درېږو.

دواړه رواني شوې، د رحمدل شا ته ودرېدې. رحمدل لاسونه لپه کړل، د خواست په ژبه يې وويل:

- خدايه! ما وبخښې زما مور او پلار وبخښې، ټول بوسلمانان (مسلمانان) وبخښې. يا خدايه، ته خو مې وينې چې يو لمونځ نه قضا کوم، ته راباندې ورحمېږې، ستا له لوبې خدايي څه ځي! هيڅ! خير دی، له نوې ښځې خو يو ځو زامن راکه.

يو دم ژړغونی شو:

- که مې دا دعا قبوله کې، قول دی، په نوم به دې ژېړ غويی خيرات کم.

پيشو وويل:

–اوس نو ښه شوه، خدای ته شرط ږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمدل وسونګېد:

-که نور نه وي، له تربره سره خو مې يو حال که. انځرګل ته دې شپږ سرې ورکړي، ما ته دوه، تربور دی، څو ورځې مخکې يې په غټ چينار دعوه را وکړه، که مې سرې درلودای، خدای که يې په اساني تبر رانه ور اچولی وای. ته خو مې وينې، ټول جومات ته مې نوی پرش ( فرش) واخيست. خو انځرګل د سلو روپو ساعت نه ورته راوړي، د سلو روپو ساعت! خو بيا هم تر ما په انځر ګل مهربانه يې.

يا خدايه. يا نارينه اولادونه راکه، يا مې له انځرګل سره مساوي که. په دوو- دريو زامنو يې کومه ټکه ور واچوه، هسې هم يو لمونځ نه کوي.

هيلی ووېل:

-تربور چا ته وايي؟

-تر ټولو نږدې خپل. د تره زوی.

-نو ولې يې دومره بد غواړي؟

-د دې خلکو تر ټولو نږدې خپل، نږدې دښمن دی.

رحمدل غلی شو، تر ډېره يې سر ځړېدلی و، څه يې نه ويل، بيا يې يو دم اسمان ته وکتل:

-يا خدايه. دا مې غټ ارمان دی چې خپل کور ته مې در وغواړې. تا ته څه سخته ده، يو ځل مې د بيت الله شريفې ديدن په نصيب که.

يا الله! په دنيا کې مې برکت واچوه چې ستا بندګانو ته لاس ونيسم.

پيشو له ځان سره وډونګېده:

-رحمدل يو سلو شل جريبه ځمکه لري، يوازې سږ کال يې تنها د بادامو له باغه درويشت لکه روپۍ واخيستې. د ولسوالۍ په بازار کې د رخت په غټ دوکان کې شريک دی، د پسونو يې حساب نه کېږي، غټه رمه لري، خو پخپله هيڅ هم نه کوي، چا يې مخه نيولې، د سلو حجونو وسه لري، خو بس! خدای ته ماتله دی، تر لاس به يې نيسي، په کعبه کې به يې کوزوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زکات خو پرېږده، نه مې په زړه کېږي چې رحمدل دې په دومره دنیا کې کوم غریب ته یو لسګون نیولی وي.

رحمدل اوږده دعا وکړه، په اخېر کې بې وژړل، له خدایه بې هدایت غوښت.

پیشو وویل:

-راځه!

-دا او هیلی، بېرته ونې ته ورغلې.

پیشو سوړ اسویلی وایست، و بې ویل:

-په کور کې بې دېرش سپارې قران شریف له تفسیر سره اینبی. ټول د خدای له هدایته ډک دی، د ژوند یوه خوا هم نه ده ترې پاتې، خو رحمدل لا هدایت غواړي. ده دا قران شریف درې کاله مخکې د مشرې لور د مرګ په ورځ را اخیستی و، په زړه مې دي، په قران شریف کې بې یو بنډل پیسې کېښودې، په خلکو بې را وګرځاوه.

"قبولې دې دي!؟ هو قبولې مې دي، خو ما بېرته در وبخښلې."

بس، همدومره! په هماغه ورځ بې بېرته اوه جامې ور واغوستې، د وره پر سر بې کېښود، په درې کاله کې بې چا پاڼه هم وانه ړوله. اوس یوه ګوته پوټی ورباندې پروت دی، خو رحمدل په بسته قران شریف نه دی قانع، نور هدایت هم غواړي.

پیشو غلې شوه. نیازی ته بې وکتل، ټوپک بې غاړې ته اچولی و، له ترموز او پتنوس سره را راونه وه.

ښځه راغله، ټوپک او ترموز بې د سرې تر مخ کېښودل. پیاله بې ډکه کړه، بېرته جامو ته ور وګرځېده.

رحمدل په غوسه وویل:

-څه خبره ده؟ ډېره هوایي بې! کارتوس خو مې نه و راغوښتي، ولې دې راوړل؟

ښځې ور و نه کتل. رحمدل له ځان سره وډونګېد.

هیلی وویل:

-څه بې وویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشو ځواب ورکړ.

-پوه نه‌شوم، غږ يې ډېر ټيټ و، خو ته وا  کومه د ناز خبره به يې ورته کړې وي! دا ذهني غريب له کنځلو پرته څه لري؟

رحمدل سپينه ټوټه د خياطي د ماشين په تېلو غوړه کړه. ټوپک ته يې ونيوله. په ځړېدلي سر يې ناره کړه:

-سايرې!

نجلۍ منډه ور واخيسته.

-څه وايې شيرين اغا!

-زوی! کارتوس نم اخلي، پورته يې را وځړوه.

د نجلۍ رنګ وغوړېد، غټې سترګې يې وځلېدې، ډک کاش يې ور واخيست. د ونې په يوه ټيټه څانګه پورې يې را وځړاوه. نيازی ته ورغله. د ځوانې ښځې غوږ ته يې خوله ور ټيټه کړه.

هيلۍ ووېل:

-څه وايي؟

-خوشاله ده، باور يې نه راځي، سترګې يې له اوښکو ډکې دي، وايي چې شيرين اغا زوی ورته ووېل.

پيشو غلې شوه، سوړ اسوېلی يې وايست، و يې ويل:

-رحمدل او دومره انسانيت؟ سر يې ټيټ و، يا به يې خوله خطا شوې وي، يا به يې په نجلۍ د باتور ګمان کړی وي. ته ورته وګوره، ټوپک څومره نازوي، کاشکې يې پر لوښو د ټوپک دربيمه حصه مينه هم راتلای.

پيشو يو دم خرې ته وکتل، خره د رحمدل خوا ته ور روانه وه.

پيشو ور غږ کړل:

-لېونی يې!؟

خرې شا ته مخ ور واړاوه، په خوند يې ووېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–د پاستي لويه ټوټه نه وينې!؟ د ليمځي پر ژۍ پرته ده.

پيشو وويل:

–خاورې وخورې، را وګرځه!

خره ورغله، ډوډۍ يې پر شونډک ور پورته کړه. يو ناڅاپه يې پښه له ډکې پيالې سره ولګېده، رحمدل، ټوپ کړل، پر خپل لانده ورانه يې غبرګ لاسونه کېښودل. خرې ته يې وکتل، ګيلاس يې ور واخيست. ټک، د خرې له تندي ماتې ښيښې را ولوېدې.

خره يو ګام لرې ودرېده، يوه شېبه غلې وه، بيا يې يو دم رحمدل ته شا ور وګرځوله. پيشو چيغه کړه.

–مه! کم‌عقلي مه کوه!

خرې پر خپلو مخکېنيو پښو زور راووست. شاتنۍ غبرګې پښې يې پورته کړې، رحمدل د وچ ځوځ غوندې ورغړېد، چړپ، په ډک لښتي کې ولوېد.

ببرته را پورته شو، زانګې وانګې ورغی، کاش ته يې لاس ور وغځاوه، ټوپک يې پر ملا مات کړ، خزانه يې له کارتوسه ډکه کړه، خرې ته يې ونيو، سره لمبه، لوی درب، سپېره لوخړه.

نجونو چيغې کړې، هيلی ولوېده، چرګې تر چرګوړو مخکې منډه واخيسته.

پيشو خرې ته وکتل، خره دوه ګامه شا ته شوه، ببرته مخکې راغله، ولړزېده، پر يوه خوا کږه شوه، راوتلې ګېډه يې له وني سره ولګېده، درب، ولوېده.

رحمدل چيغه کړه:

–ستا د مور... دومره دې سترګې پټې شوې. ما وهې، هه! رحمدل!

يو دم يې نجونو ته وکتل، له خولې يې لاړې باد شوې:

–ها د سپي لوښو. څه کوکې وهئ! مور خو مو نه ده مړه.

ټوپک ته يې کارتوس ور واچاوه. نجونو په تاکونو کې لوڅې پښې منډې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمدل په خپله پزه لاس تېر کړ، وينې وه. لښتي ته ورغی.

پيشو د خرې خوا ته لړزانده ګامونه ور واخيستل، ور نږدې شوه. د خرې په غاړه کې لوی پرار(ټپ) جوړ و، غاړې ته يې پر نږدې شنو وښو د وينو نری داره لګېدله.

پيشو ورته کېناسته. د خرې تورې، غټې سپږمې وپړسېدې، سترګې يې خلاصې کړې، په غريو کې يې وويل:

-ډېرې لښتې يې راکړې وې، نور مې نهشوای ورته سيبلای.

د پيشو سترګې ډکې وې. خرې په زحمت دوې ګوتې سر پورته کړ. بېرته يې وربوز پر وښو کېښود، و يې ويل:

-په ده بچي خو مې هم سرې وينې تويې کړې.

يو دم يې خر وهل، له خولې يې وينې را وبهېدې، شونډې يې وېرې شوې، په سخته يې وويل:

-پيشو! تا ويل چې نه خاندې، وينې مې، و مې خندل.

وروستی ساه يې ارته سپږمو ته نږدې وابنه وښورول، سترګې يې نيمکښه پاتې شوې.

پيشو يودم کوکې کړې، په ژړا کې يې وويل:

-خرې، مه مره، خير دی، مه مره. مه مره...

پيشو ژړل:

-...اه زما خوږې خرې! مه مره...

تر ډېره د خرې سر ته ناسته وه.

له ژړا ستړې شوه. رحمدل ته يې وکتل، بېغمه ناست و، پر ټوپک يې غوړه ټوټه تېروله.

باغ يې تر نظر تېر کړ، هيڅوک نه ول.

شېبه وروسته د رحمدل دواړه زامن خرې ته ودرېدل، يوه تر يوه پښه ونيوله، بل تر بلې، زورونه يې ووهل، نه کېده.

رحمدل ورغی. خره يې د باغ تر بل سره ورسره کش کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیرت او باتور په بېلچو پسې لاړل.

رحمدل پر لیمڅي پرېووت. سترګې يې پټې کړې، د غرمې خوب يې کاوه.

ساعت وروسته خره تر خاورو لاندې وه. خاورو ته یوازې پیشو ناسته وه، مړې اوښکې پرې ماتې وې. ښه شېبه ووته، بیا يې سوړ اسوېلی وایست:

–اه زما ساده ملګرې، څه خبره وم. کاشکې مې دا هم درته ویلي وای چې له عقله پرته زور، تباهي ده.

(۳)

سېرلي خړو خاورو ته کتل... پیشو پر پروړه پرته وه. هیلی د چرګې پر ملا سر ایښی و، ټول غلي ول.

پیشو وسونګېده:

–ټول زما له لاسه. د ځینو کسانو ماغزه زړورتیا ته نه وي جوړ.

یو دم يې وژړل.

چرګې وویل:

- بس دی نورا! ځان مه ملامتوه! خره پخپله خره وه، څوک به رحمدل ووهي!؟

د سېرلي غږ راغی:

–پیشو! ټوله ورځ دې په ژړا تېره کړه.

له پورته پروړه را وښویېده، کوچنی موږک راغی، د پیشو پر لکۍ تېر شو.

پیشو ور وکتل، بېرته يې سر ولګاوه.

موږک مخکې راغی، د پیشو له برېت سره ولګېد. پیشو مخ ترې واړاوه. موږک منډه کړه.

یو دم د چرګې د ټېر له پستو ښکو نارې راووتې:

–مه مې وله! مه مې وله، مه مې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

چرګه ودرېده، يوه چرګوړي يې په خوب کې چيغې وهلې...

چرګې خپل چرګوړی وخوځاوه:

-ځار! پورته شه.

چرګوړي سترګې رڼې کړې، يو دم يې د مور د ټټر په پستو بڼکو کې سر ننه‌ايست. ژړا يې زور ونيو...

چرګې وويل:

-مه ژاړه، خوب دې ليد.

چرګوړي په ژړا کې وويل:

-رحمدل ټوپک را پسې را اخيستی و، منډې يې را پسې وهلې، ويشتلم يې.

چرګې سوړ اسوېلی وايست:

-رحمدله، دا غټې سپېرمې دې وخورې، خپلو اولادونو خو ښه ورځ درنه ونه ليده، ان زما چوچونې دې لا په رواني تکليف اخته کړل.

اذان راغی.

پيشو وويل:

-رحمدل به اوس په جومات کې په اول کتار کې ولاړ وي.

وخت ووت، د کاداني د دريڅې رڼا ورو ورو کمزورې کېدله. يوه شغال ناره کړه.

هيلی وويل:

-دی څه وايي؟

ځواب يې وانه ورېد.

د بل شغال نرېدې ناره راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلی خرې ووېل:

–سېرلیه، ته بې په ژبه پوهېږې؟

له تیاره کونجه د سیرلي غږ را ووت:

–خیر دی هیلي، خرې ته خوابدی یم، مه مې په عذابوه.

پیشو ووېل:

اول شغال ناره کړه:

"را ووځئ، خطر نه‌شته، انسانان ویده شول."

دویم شغال ور غږ کړل:

"خدای مو دې له دې مردارخورو وساتي."

سوړ اسوېلی یې وایست، و یې ویل:

–اخ خرې! نو دومره لویه اشتباه! ټول خو اوږدغوږي دوی نه دي چې حوصله درته وکړي.

یو دم یې ژړا او خندا سره ګډه شوه:

–چرګې، خره به مې ډېره په عذابوله، په زړه دې دي، یوه ورځ مې له بامه په نس کې پرې را ټوپ کړل. دې یوازې راته وکتل.

غلې شوه. و یې ویل:

–اه ګرانې، تر رحمدل خو زر وارې حوصله‌ناکه وې.

ناره راغله:

–بي، بي، بي، بي، بي....

پیشو ووېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-چرګې، سایره ده، اوس به یې بیا لنده ډوډۍ درته راوړې وي.

چرګې وویل:

-زړه ته مې نه کېږي.

-هیلۍ! ته ورشه، هیڅ دې هم نه دي خوړلي.

هیلۍ د چرګې پر ملا غاړه کېښوده.

چوپه چوپتیا وه، شغالانو زېږي کول، د خوشالي زېږي! رحمدل دوی ویده وو.

(۴)

هیلۍ د چرګوړي په ژړا سترګې رڼې کړې. د سېرلي خرهاری خوت، چرګې خپل چرګوړي ته زړه ورکاوه چې خوب او وینښه فرق سره لري. پیشو نه وه.

هیلۍ د دېوال له سوري ووته. سپېدې چاودلې وې، خو لا هم ستوري ځلېدل. هیلۍ شا و خوا وکتل، سپي په چوتره کې په خپلو مخکېنیو غځېدلو پښو خپل غټ سر ایښی و. هیلۍ تر چوترې لاندې ورته ودرېده، غړۍ یې اوږده کړه. د سپي سترګې پټې وې. له سینې یې غږهاری را ووت.

هیلۍ بېرته د کادانې خوا ته ورغله. پورته یې وکتل، پیشو د کادانې پر بام ناسته وه. تر نېغو غوږونو پورته یې سپوږمۍ ښکارېدله.

هیلۍ ورغږ کړل:

-در ختلای شم؟

پیشو له پورته ور وکتل، و یې ویل:

-کادانې ته ننوځه، اوږدغوږی نه وینې!؟

-ویده دی.

پیشو وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-بام ته د لرګي زينه ولاړه ده، خو زحمت مه باسه، پښې دي زينې ته نه دي جوړې.

هيلۍ همالته ودرېده، غوږ يې ونيو، د سيند د اوبو غږ راته.

هيلۍ وويل:

-پيشو، څه وينې؟

-لرې د هسک غره سپينې څوکې تر لمنو پورې روښانه ښکاري، له دې غره ګڼې درې را پرې دي، يوه دره يې همدا ده، د دې درې په منځ کې سيند بهېږي، د سيند اوبه له هماغو واورو سرچينه اخلي. دواړو غاړو ته يې شنه فصلونه او ګڼ کلي پراته دي، د ډېرو کورونو له دودکشونو خړ لوګي پورته کېږي. سيند مړې اوبه لري، خو ځای ځای غټې تيږې غږ ورکوي. تر ړنګ پله لږ ور ها خوا د غونډۍ په لمن کې سوځېدلی مکتب ښکاري.

غلې شوه.

د توپک ډز راغی.

هيلۍ وويل:

-رحمدل به بيا کومه هيلۍ ويشتلې وي

-نه، رحمدل له سپي پرته ښکار ته نه ځي، خو دلته په سلګونو رحمدل دوی اوسي. هر يو په لوخو کې خپلې مورچې لري.

يو دم د هيليو د وزرونو شنها راغله. خرې هيلۍ منبوکه پورته ونيوله، ناري يې کړې.

سپی وغرېد. هيلۍ په يوه او بل انډې شوه. کادانې ته ننوته.

(۵)

کوکوګلې په خواست وويل:

-وه هلکه. ورشه، پلار ته دې ووايه.

د باتور غږ راغی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل چا ته ووایه. نه وینې، لینده جوړوم

پیشو له پروړې ټوپ کړل، تر سورې یې سر وایست.

هیلۍ وویل:

–څه خبره ده؟

–نه پوهېږم. باتور په چوتره کې لینده تړي.

هیلۍ پیشو ته ورغله.

کوکوګلې ناره کړه:

–سایرې! هله، پلار دې را وبوله!

نجلۍ پلاسټیکي څپلکې په پښو کړې. په منډه د باغ خوا ته روانه شوه.

کوکوګله غوجلې ته ورغله.

پیشو وویل:

–باید کیسه مالومه کړم.

ټوپ یې کړل، تر کوکوګلې مخکې غوجلې ته ننوته. په اخوره کې کېناسته. بړګې غوا ته یې وکتل، و یې ویل:

- خوشایي خو دې نه دي بند! څنګه داسې بېواره زورونه وهې؟

کوکوګله راغله، د غوا په ښکرو یې سور تاویذ را وځړاوه. پیشو ور وکتل، د ښځې په سترګو کې اوښکې رغړېدې.

غوجله تیاره شوه، رحمدل په وره کې ودرېد:

–څه خبره ده؟

کوکوګلې وویل:

–بړګه غوا لنګېږي، خو ما ته ښه نه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمدل له جېبه موبایل را وایست، غوږ ته یې ونیو، شېبه وروسته یې  په وارخطایي وویل:

-ها! انوره، غوا لنګېږي، ښه نه ده.

غلی شو.

و یې ویل:

-موټر در ولېږم.

یوه شېبه یې خوله پټه وه، بیا یې وویل:

-سمه ده، خو لږ بېړه وکه.

غیرت راغی، وارخطا و. و یې ویل چې ناروغ پسه مړ پروت دی.

د رحمدل رنګ والوت. ورغی. پسه د نورو پسونو په منځ کې پښې غځولې وې.

رحمدل ناره کړه.

-سایرې؟

نجلۍ په منډه له دالانه را ووته، جارو یې په لاس کې و. په چوتره کې ودرېده.

رحمدل وویل:

-تا ته مې نه و ویلي چې پر پسه پام کوه!

نجلۍ غځېدلې پسه ته وکتل، رنګ یې والوت. په وېره یې وویل:

-زه د شپې دوه وارې ورته را ووتم، بتی مې ور واچوله. پسه په خپلو پښو ولاړ و.

رحمدل ځمکې ته ټیټ شو. بېرته ودرېد، څغ، ډېره د نجلۍ تر ښي غوږ تېره شوه، له دېواله یې یوه لوښت کاګل را جلا کړ.

رحمدل چیغه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

–وه رنډی! پام نو داسې وي!

نجلۍ دالان ته منډه واخیسته.

پیشو له غوجلې را ووته.

کوکوګله راغله. مړه پسه ته یې وکتل، یو دم کېناسته. سر ته یې غبرګ لاسونه ونیول، غریو واخیسته:

–خدایه. د کومې ګناه سزا راکوې!؟

رحمدل چیغه کړه:

–ته مې پوه کړې وې چې پسه ښه نه دی. نجلۍ ور لېږه.

کوکوګلې په وارخطایي وویل:

–سایره مې د شپې دوه وارې ورته را ویښه کړه.

پیشو غلې کادانې ته ننوته.

هیلۍ وویل:

–څه خبره ده؟

پیشو پر پروړه پرېوته، و یې ویل:

–اجب خلک دي، د پسونو غم به هم نجونې خوري، ځوان زوی ته نه وایي، خوب یې خرابېږي، خو نجلۍ ګرمه ګڼې چې ولې یې پر پسه پام نه دی کړی.

د چرګوړي غږ راغی:

–مورې! باغ ته نه ځو؟

پیشو ور وکتل:

–مور دې مه په عذابوه. د رحمدل پړسېدلې سپږمې نه وینې!؟ نن د باغ ورځ نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سېرلي وويل:

-پیشو! په دې ورځو کې دې له ځانه پلار راته جوړ کړی دی، په نصیحت بده ښکارې، د چرګوړو زړه تنګ شوی. پربېږده چې مور بې یو چکر ورکړې.

پیشو مخ ور واړاوه:

-که دې پلار وای، نو پخوا مې لا تر ستوني نيولې. داسې کم عقل اولاد مې نه غوښت.

پیشو دباندې وکتل، ناره یې کړه:

-اوږدلکیه؟

سپي ور وکتل.

پیشو وویل:

-ډېر رحمدل ته مه ور نږدې کېږه، دا خلک په عادي حالت کې په واک نه وي، اوس خو یې د لسو زرو پسه په مفته کې مردار شو.

سپی په خبره کې ور ولوېد:

-چټیاټ مه وایه. تا ته زور درکوي چې زه ولې په رحمدل ګران یم.

پیشو وویل:

-شکر! که په دې مردارخور ګرانه وای، زړه به مې ټک چاودلی وای.

سپي مغروره ځېره ونیوله، رحمدل ته ور نږدې شو. لکۍ یې ووهله، پر بوټ یې وربوز ور کېښود.

رحمدل ناره کړه:

-څه تر کونه مې تاوېږې!

د سپي تشې ته يې د بوټ تېره څوکه سیخه کړه. سپي کوړنچ وهل. لرې ودرېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشو ور غږ کړل:

–نه مې درته ویل! دا عادي خلک نه دي. په یوه دقیقه کې به ورباندې ګران یې، بله دقیقه به له بوټونو سره درکې خېژي.

د کور دروازه وټکېده. د موټرسایکل غږ د غوجلې له وره سره غلی شو. پیشو ور وکتل، و یې ویل:

–غوا ته یې ډاکټر راووست.

بېرته غلې پرېوته. و یې ویل:

–اخ! نجیبې خوارکی تر پایه ډاکټر و نه لید.

رحمدل او غیرت له یوه ځوان سره غوجلې ته ننوتل.

سېرلي وویل:

–پیشو، احوال یې نه راوړې؟

پیشو ور وکتل:

- ته به څه وخت هوښیارېږې؟ تمه مې در نه وخته. د څه احوال؟ غوا ده، لنګېږي، ډاکټر یې ورته راووست. دومره خو خره هم پوهېده.

چرګې وویل:

–په مرو پسې څه مه وایه.

پیشو غږ و نه کړ. ښه شېبه ووته، غیرت له غوجلې راووت، خندل یې، په چوتره کې یې ناره ونیوله:

–ادې! مبارک! غوا لنګه شوه.

کوکوګله راووته. اوله پوښتنه یې د سخوندر په اړه وه. نر ده که ښځه؟ ځواب یې وارېد، ښځه.

د کوکوګلې رنګ تازه شو، په بېړه بېرته کوټې ته ننوته، د زېري ناري یې راتلې، وړه خبره نه وه. غوا سخوندره پیدا کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رحمدل خندا راغله. پیشو ور وکتل، د ډاکټر په جېب کې بې پیسې ور منډلې. خوشاله و چې د سخوندر پر ځای سخوندره پیدا شوې ده.

پیشو وویل:

–درې کاله مخکې کوکوګله په اولاد مریضه وه. د کلي یوه زړه ښځه بې ورته راوسته. کوکوګلې ټوله شپه له درده چیغې وهلې، سهار بې په چیغو کې د یوه کوچني ژړا ګډه شوه. رحمدل برنډې ته ور وخوت، له هماغه ځایه بې ور ناره کړه:

–هلک ده که نجلی؟

له کوټې د زړې ښځې خوابدی غږ راغی:

–د خدای داد ومنه، نجلی ده.

رحمدل اول په چوتره کې ډک سطل واړاوه، بیا کرنګ شو، اینبې دیګ ته بې پښه ورا واچوله. وروسته بې پټکی له ځمکې وویشت، له ډېرې غوسې بې پر خپل مټ کلکه خوله ولګوله. د خدای په داد نه و راضي.

خو اوس د غوا سخوندرې ته خوشاله دی. یو بل ته مبارکي ورکوي، دلته تر نجونو د غوا سخوندره ډېر عزت لري. دا خلک بې په زېږېدېدو خوشاله کېږي، زېري کوي، خو نجونې.

غلې شوه. سړه ساه بې وایسته:

–اوف، ورک بې که! دې خلکو ته به دې پر زړه تناکې را وخېژي.

چرګې وویل:

–پیشو!اوس خو رحمدل خوشاله دی، که چرګوړو ته یو چکر ورکم، ته وا خطر خو به نه لري!؟

پیشو ور وکتل، دواړو چرګوړو معصومې سترګې نیولې وې.

پیشو وویل:

–زړه دې، خو پام کوه، رحمدل دوی په واک نه دي.

چرګې،هیلی ته وکتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-نه ځې؟

هیلۍ وویل:

-تورغوړی به څه کوم؟

-بې غمه اوسه، راځه.

هیلۍ له چرګې او چرګوړو سره دباندې ووته. ترپ شو. د هیلۍ له روغ وزره دوړه پورته شوه. د باتور خندا راغله. چرګې ور وکتل، باتور په چوتره کې ناست و، په لاس کې یې سره لینده ښکارېدله.

چرګې هیلۍ ته وکتل:

-ژوبله شوې.

هیلۍ بېرته کادانې ته منډه واخیسته.

چرګه هم له خپلو چرګوړو سره را وګرځېده.

پیشو تر هیلۍ را تاوه شوه، و یې ویل:

-ښه ده چې لوټه وه، که نه تر دې ځایه نه را رسېدې.

غلې شوه. و یې ویل:

-تورغوړی دوی دومره خطرناکه نه دي، له باتور دوی وډارې شئ.

چرګوړی وچونګېد:

-مورې! نو نن دباندې نه وځو؟

-نه

(۶)

پیشو راغله، پر خپلو شونډو یې ژبه تېره کړه، و یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-غرمې ته چربه ده.

ټولو ور وکتل. پیشو د پروړې سر ته وخته، و یې ویل:

-همدا اوس له دالانه راغلم، له دېګونو وار نه کېږي، څوک قورمه پخوي، څوک وریزې پرېمنځي، څوک د کباب لپاره پسته غوښه بېلوي، څوک چرګې او .

غلې شوه. چرګې ته یې وکتل، و یې ویل:

-چرګوړي خو دې وینې نه دي؟

چرګې حیرانې سترګې ور واړولې.

پیشو وویل:

-ښه خبره مې نه کوله، ډارېږي.

چرګې وویل:

-ویده دي.

پیشو وویل:

-څوک چرګې او چرګان له پوسته کوي.

غلې شوه، سېرلي ته یې وکتل، و یې ویل:

-سیرلیه خیرنه، ته هم مه خپه کېږه. د هندواڼو پوستکي به در ورسېږي.

هیلی وویل:

-کومه خاصه خبره ده.

موږک منډه واخیسته، پیشو پسې ور غبر کړل.

-مه وېرېږه، نن په تا مردارخور نس نه ډکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چرګې غږ راغی:

-د هیلی پوښتنه دې ځواب نه کړه.

پیشو وویل:

-ها! خود خاصه خبره ده. رحمدل مېلمانه لري. واړه کسان نه دي، د دې سیمې تر ټول غټ، مخور، پوه،د عزت او د جرګو-مرکو کسان بې راغوښتي دي.

هیلی وویل:

-ولې؟

-هیڅ! رحمدل کله کله خرچه کوي، له زورورو کسانو سره یې جوړه ده، وایي چې په درد مې خوري.

پورته شوه. له سوري یې سر وایست، و یې ویل:

-اوږدغوږی نه‌شته، راځي! پرون هم ټوله ورځ دباندې و نه واتو.

چرګې خپل چرګوړي را ویښ کړل، له سېرلي پرته ټول باغ ته لاړل. نجونو د توتانو سیوري ته پر سرو غالیو توشکې او بالښتان اېښودل.

پیشو ټیټې ونې ته وخته، هیلی د لښتې اوبو ته ور ولوېده، د چرګوړو په یوه سره چینجي سره جنجال و.

پیشو له پورته وویل:

-اوږدغوږی نه ښکاري.

د سپي غپا راغله. پیشو ور وکتل، په تاکونو کې را روان و.

پیشو وویل:

-بد مخلوق ډېر عمر لري، یاد مې کړ، پیدا شو.

ناره یې کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

–اوږدغوږې!

هیلۍ وویل:

–خیر دی، مه یې راغواړه.

پیشو وویل:

–اوس خو مې ور غږ کړل.

سپی راغی. تر ونې لاندې ودرېد.

پیشو وویل:

–راځه چې سره دوستان شو.

سپی وغرېد.

پیشو وویل:

–هیلۍ وایي چې په نوره دنیا کې سپي، پیشو او موږک یو ځای سره اوسي. خواږه ملګري دي، له یو بل سره مینه لري.

سپي هیلۍ ته وکتل.

د هیلۍ سر وځړېد، په اوبو کې د لښتي د ژۍ ونږو ته ورغله.

سپي وویل:

–د هر کم عقل خبره مه منه.

پیشو وویل:

–اوف، سپیه! رحمدل خو نه یې چې ځان تر نورو هوښیار ګڼې.

غلې شوه، و یې ویل:

–بیا هم ښه ده، مشوره دې راکړه، نه به یې منم، یانې سره ملګري شوو!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

–ته يو ځل راکښته شه.

–رښتيا؟ څه نه راته وايې!؟

سپی وغرېد.

–نه

پيشو له پورته ښاخه، لاندې ته ورغله، ودرېده، و يې ويل:

–ډېرې مړې سترګې دې دي، د باور وړ نه يې.

سپي يو دم ور ټوپ کړل، خلاصه خوله يې د پيشو د لکۍ تر څنګ تېره شوه، لاندې په جووه کې ولوېد.

پيشو پورته ښاخ ته وخته، سپي ته يې وکتل، و يې ويل:

- ما ټوکې کولې، خو له تا په رښتيا کونه ورکه شوه. سپی نو چا ملګری کړی دی!

سپی روان شو.

پيشو ورپسې غږ کړ.

–مردار ځړېدلي، اوږه غوړونه دې وخوري. بيا دې دې خوا ته و نه وينم.

چرګې او هيلۍ ته يې وکتل، و يې ويل:

–ومو ليدم!؟ څنګه مې درته وډار که!؟

مخامخ يې وکتل، و يې ويل:

–رحمدل په لاسونو غرېږي، لکه چې نوي فرمايشات لري!

له ونې يې ټوپ کړل، په جووه کې لنډه ورغله. د تش سطل شا ته پرېوته.

رحمدل ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

...شاوخوا سمه اب‌پاشي کړئ، لوښت ځای وچ و نه وینم. سایرې! هندوانې ځا ته ور کښته که. تر غرمې باید سړې شي. سر له اوسه لا څلور ترموزه چای تیار کړئ، وچه مېوه مو هېره نه‌شي. بله خبره، وړې نجونې باغ ته مه راپرېږدئ. ورته ووایاست چې که مې یوه هم ولیده، پښې به یې ور ماتې کم.

غلی شو، نسوار یې تر ژبه لاندې واچول، و یې ویل:

–غیرته! حاجي شمشېر خان ته ورغلې؟

ځوان وویل:

–ټلیفون مې ورته وکړ!

د رحمدل تنده تروه شوه:

–ټلیفون او کور ته ورتګ فرق سره لري.

د سایرې غږ راغی:

–شیرین اغا! څو کسان دي؟

رحمدل تریو ور وکتل.

نجلی په وارخطایي وویل:

–مال څو بالښتان کېږدم؟

–که یو دوه اضافه راوړې، بلا به دې ووهي!؟

نیازۍ سطل ته ورغله، پیشو ټوپ کړل، لرې ودرېده.

ښځې سطل ور واخیست. د لښتي له اوبو یې ډک کړ، تر چمن ور ها خوا له سپېرې ځمکې دوړه پورته شوه.

رحمدل غبرګې پایڅې ور پورته کړې. په خوشکه یې وویل:

–سوکه! چا ته دې دومره سودا ده؟ کوم یار خو دې نه راځي!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیازی ځمکې ته وکتل.

رحمدل روان شو. لرې د ونې سیوري ته پر لیمڅي کېناست. ټوپک یې ور واخیست. پیشو ورغله. د ګلاب تر غټ بوټي لاندې ورته کېناسته. چرچپا یې واورېده، ور و یې کتل، هیلۍ له اوبو را وخته، پر یوه او بله خوا شوه، پیشو ته ورغله.

باتور راغی، د پلار تر څنګ کېناست. ورو یې وویل:

–شیرین اغا! سهار مې اشرف ولید، له کلاشنکوف سره دباندې راوتلی و.

د رحمدل ټنډه تروه شوه، و یې ویل:

–نو ته څه بلا وهلی یې، تربره ته ځان کم مه راوله! په کور کې دوه را ځړېږي.

د هلک سر وځړېد:

–خو کله کله طیارې ګرځي.

رحمدل ته غوسه ورغله:

–بس! له بې‌غیرته خبرو مې بد راځي. ځان ته نارینه وایې! نر پسه حلالېدا ته پیدا دی.

هیلۍ وویل:

–زده یې دی؟

–څه؟

–کلاشینکوف؟

پیشو ور وکتل:

–هیلۍ! ډېره ساده یې. کلاشینکوف خو عادي خبره ده، د هاوان، پیکا او دهشکې خبرې کوه. رحمدل مې څو ځله لیدلی دی، زامنو ته یې د څو رنګه وسلو خلاصول او بېرته تړل ور زده کول. له باتوره ټک نه خطا کېږي.

غلې شوه. و یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–هاغه ونه وينې؟ هاغه تر سرخ بېدې ور ها خوا، هسک چنار.

–هو.

–څو ورځې مخکې د هماغه چنار په سر کې کارغه ناست و. باتور له دې ځایه کلاشینکوف ورته ونیو، لاندې بې راواچاوه.

هیلی وویل:

–خو په نوره دنیا کې داسې نه ده، یوه شپه ستړې شوم، د یوه کور تر مخې د اوبو حوض ته ور کښته شوم. له کوټې د ښځې او سړي غږ راته، ښځه ګیله‌منه وه، سړي ته یې ویل چې ماشومانو ته دې ولې داسې ګېم راوړی چې ټوپک لري. دواړه سره وغړېدل، ښځې ویل چې ټوپک د ماشوم په روحیاتو بده اغېزه لري، بې‌رحمه یې اموخته کوي. سړي بخښنه وغوښته.

پیشو وویل:

–دلته دا خبرې نه‌شته. رحمدل دوی تر نورې دنیا هوښیار دي، تېر کال له پله سره یو ټانک ماین پورته کړ. قوه لاړه، ما پخپله ولیدل، ماشومانو د انسانانو د غوښو ټوټې جلانو ته وړې. چا ورته ویلي وو چې جل د انسان په خوښه ښې ناري وهي.

همدا اوس باتور ته لاس تړلی انسان پرې باسه، بس، په وژلو کې یې مازې یوه خاشه ثواب ور وښیه، چاړه پرې تېروي.

هیلی رډې سترګې ورته نیولې وې.

پیشو وویل:

–زه د دې درې په ډېرو کلیو کې ګرځېدلې یم، یو کور هم بې‌ټوپکه نه دی. وور، زور، ټوپک خپله ګاڼه ګڼي.

غلې شوه، و یې ویل:

–هیلی! اوبردغوږی راغی. لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلی د لښتي پر ژۍ پر شنو وښو خپله ژېړه منښوکه کېښوده. د وښو د ځوکو له منځه یې ور وکتل، له رحمدل سره ځلور نور کسان د ونو سیوري ته ناست وو.

د تاک پاڼې وخوځېدې. هیلی ور وکتل، پیشو تازه د تاک د پلنو پاڼو سیوري ته پرېوته. هیلی ورغله. و یې ویل:

–نو دا د رحمدل مېلمانه دي؟

پیشو وویل:

–نوې خبرې وکه. پخپله هم پوهېږې چې مېلمانه دي. وینې یې، پوښتنه ولې کوې؟

غلې شوه. و یې ویل:

–راته ووایه چې پوښتنه دې ځکه وکړه چې ته د ویلو لپاره نوې څه نه لرې، خو زما هره خبره نوې ده، نورو ته نه، تا ته نوې ده، ځکه ته دلته نه یې اوسېدلې، له نورو ملکونو راغلې یې، له ټکې هم نه یې خبره.

له پورته خړه، وړه غنې په تار پورې را وزنګېده، پیشو ور پوه کړل، غنې په پاڼه پورې ونښته، پیشو وویل:

–دا ځلور کسان د رحمدل د راز ملګري دي، سره جوړه یې ده، رحمدل یې په کال کې درې– ځلور ځله ډوډۍ ته را غواړي. دا عادي خلک نه دي، کاشکې د باغ د دېوال ها خوا در ښکارېدای، هر یو څو وسله‌وال او قیمتي موټرې لري.

غلې شوه، و یې ویل:

–هیلی! که لږ ور نږدې شو، خبرې به یې واورو. ته خو به رڼه میدان هم ورتلای شې، بس، همداسې په اوبو کې نږدې ورشه. زه به په تاکونو کې د غیرت تر موټرسایکله ځان ورسوم.

پیشو ټوپ کړل. هیلی پسې وکتل، یو ځای په پروتو لاړه، وروسته یې ملا نېغه ونیوله، تر لښتي واوښته، د موټرسایکل شا ته پرېوته.

شېبه وروسته هیلی هم ورغله. و یې ویل

–که اوږدغوږې راغی! بیا؟

پیشو ور وکتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–ولې تل منفي فکر کوې؟ که دا نه راغی، بیا؟

یو دم د خندا غږ واورېدل شو. پیشو وویل:

–د ټولو خولې خلاصې دي، خو تر ټولو حاجي شمشېر خان ډېر برېږي.

–ته یې پېژنې؟

–څه د پلار زوی مې دی! خو همدلته ځو مېلمستیاوو ته راغلی، یو څه ورسره بلده یم.

د رحمدل غږ راغی:

–ورک یې که، اجب وختونه وو.

هیلۍ وویل:

–رحمدل په کومو وختونو پسې ارمان کوې؟

- دا خلک تل په تېرو وختونو پسې مړه دي.

یوه ډنګر سړي وویل:

حاجي شمشېرخانه! هغه د کاروان موضوع دې څنګه شوه؟ چا ویل چې په سرحد کې ډزې دربانديې وشوې.

چاغ، ګردي سړي وخندل:

–پاچا! ته ام اجبې خبرې کوې، موږ نو بیا کله په کراره تر سرحدونو اوښتي یو.

هیلۍ وویل:

–ولې؟ څه کیسه ده.

پیشو وویل:

–حاجي شمشېرخان د پوډرو کاروبار کوي، په کال کې دوه ځله کاروانونه تړي، تر ایرانه یې اړوي، په ترکیه کې یې خپلو نورو ملګرو ته ور سپاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلی وویل:

-نو دوی؟

پیشو په خبره کې ور ولوېده:

-چوپ! غوږ ونیسه.

حاجي شمشېرخان وویل:

-یاره پاچا پوډرو نو بیا کله پیسې نه دي ګټلې! سږ کال د ایران لاره سخته وه، خو خدای مهربانه دی، تش لاس دې نه پرېږدي، په داخل کې د پوډرو او تریاکو بازار تود و.

پیشو وویل:

-څه وخت مخکې رحمدل راډیو نیولې وه، ویل یې چې په دې وطن کې د معتادانو شمېر تر دریو میلیونو واووښت.

د حاجي شمشېرخان له غوسې ډکه ناره کړه:

-ورک یې که رحمدله. پردل مرداره کړه. مه یې را یادوه، شراکت مې ورسره پرېښود، حرامو ته یې لاس ور واچاوه، د خدای دښمن مې بد ایسي، له تاجکستانه په پټه شراب راوړي.

پیشو وویل:

-اجبه ده، شراب حرام دي، پوډر حلال! دې سړي نیم وطن غرق کړ، یوازې په همدې څو کلیو کې سلګونه کسان معتاد دي.

هیلی وویل:

-دا پاچا بیا څه کار کوي؟

پیشو سوړ اسوېلی وایست:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–زه د نهو کالو یم، زما په یاد  لا د دې غرونو لمنې تکې شنې وې، خو مور مې راته ویل چې یو وخت ټول سیند په ونو کې نه ښکارېده. لوړې او ژورې، ټول ځنګل و، د ابادۍ لپاره یوه لوېشت خړه ځمکه نه پیدا کېده. خلکو به ونې وهلې، د کورونو لپاره به یې ځمکه خالي کوله، خو اوس هیڅ هم نهشته.

غلې شوه، وبې ویل:

–پاچا د چهار تراشو تجارت کوي، ده او ملګرو یې ټول غرونه لغړ کړل، نږدې ونې یې په موټرو کې راوړې، کومو ځایونو ته چې د موټر لار نه سیخېده، ونې به یې اره کړې، په سیند کې به یې واچولې، لاندې به یې له اوبو را و ایستې. اوس یوازې په ډېرو لوړو کې یو څو ونې پاتې دي. پاچا یوه ورځ په ټلیفون کې چا ته ویل چې کچرې او اوښان ورته تیار که.

د رحمدل خندا راغله:

–عبدالرحیمه، ته او خدای! هغه د جنګ کیسه دې وکه، شمشېرخان حاجي دا څو میاشتې مساپر  و، نه یې ده اورېدلې.

یوه له رنګه تور سړي تر ورانه بالښت لاندې کړ، پیاله یې کېښوده، و یې ویل:

–ها خو مې د وزیر له اوښې سره وخوړل. سرکوزي دوه لکه ډالر غوښتل.

پاچا وویل:

–سمه کیسه وکه.

عبدالرحیم غاړه صافه کړه:

–یاره پاچا څه درته ووایم! د وزیر له اوښې خو مې دا اوله پروژه نه وه اخیستې، له کومې ورځې چې مې شرکت جوړ کړ، یوازې له ده مې دا اتمه پروژه وه. دوه مکتبه، لوی پل، درې کوچني بندونه... دا ټول مې ورته جوړ کړل، خو په اخېره کې یې راسره مرداره کړه. ده له وزارته یوه پروژه راته را وایسته، غوړه ګوله وه، دوه منزله لېسه جوړېده، یوولس لکه ډالره ورته منظور شوي وو. د وزیر له اوښې سره مې لا  له اوله خبره خلاصه کړه، یو نیم لک مې ورته ومنلې.

بس! په یوولسو لکو کې مې درې نیم لکه په تامیر ولګولې، شپېته زره مې د حکومت ولسوال ته ورکړې، څلوېښت زره ملا عبدالغني را نه واخیستې. یو لک هغو انجنیرانو یووړې چې پروژه مې ور تسلیم کړه. اخېر د وزیر د اوښې وار راغی، یو نیم لک مې ور وړې، خو دی وچ منکر شو، قسم یې یاد کړ چې د دوو لکو خبره مې درسره کړې وه، ورته و مې ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې غلط شوی يې، که دوه لکه تا ته درکم؛ نو ما ته څه پاتېږي. نه يې منله، ماغزه مې ورته واوښتل، خبره مو سره واړوله، په خپله شعبه کې مې له سره چايه په ډک ګيلاس وويشت، اخ! حاجي صاحبانو! کاش چې هغه ساعت مو ليدلی وای، په لوند پټلون کې يې د بيزو غوندې اجبې ټوپکې وهلې.

ټولو وخندل:

هيلی وويل:

–هاغه يو ولې پټه خوله دی؟ هيڅ هم نه وايي، تروش تندی يې نيولی، ان هيڅ خندا نه ورځي.

–هغه حاجي باز  نومېږي، دروند دی.

–پوه نه‌شوم.

–دلته چې څوک خبرې و نه کړي، خلک يې پوه او دروند بولي.

–نو چې خبرې و نه کړي، له کومه به پوه شو چې پوه دی. په نوره دنيا کې پوه خلک ډېرې خبرې کوي، که دوی و نه غواړي، نور يې غږوي، ځکه پوه وي، د پوه سړي خبرو ته ټول ضرورت لري. ډېر څه ترې زده کوي.

پيشو وويل:

–چوپ! د حاجي باز کوناټې سره وخوځېدل، اوس به يې پخپله عالمانه خبره واورې!

حاجي باز يو دم وخندل، و يې ويل:

–نو د وزير د اوښې په کوناټو به هم اجبې غټې تڼاکې راختلې وي.

همدا يوه خبره يې وکړه. ببرته يې جدي څېره ونيوله، دروند کېناست.

پيشو وويل:

–اوس خو پوه شوې چې دلته غلي سړي ته ولې پوه او سنګين وايي. دا ځکه چې تر غږېدا يې نه غږېدا ښه ده. دا خلک چې څومره کم غږېږي، هومره به کم چټياټ وايي. مالومداره، تر ټولو کم چټياټ ويونکی به تر نورو پوه او سنګين وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشو سوکه ولاړه شوه، لرې کېناسته. هیلی ورغله. و یې ویل:

–ولې را ولاړه شوې؟

پیشو سرږه سا وایسته:

هیلی! نور نو دې چټیاټو سترې کړم.

غلې شوه. و یې ویل:

–ګوره! دا کسان لس بجې راغلل. اول نیم ساعت خو یې دوه درې ځله په څه حال، څه احوال، ښه یې، کراري ده... تېر شو. بیا د معدن د الوځولو، د ځنګلونو د وهلو، پوډرو، قاچاق، د مکتب، پل، پلچک، کلینیک... له پیسو څخه د غلا... په باره کې وغږېدل. هر څه یې عادي وګڼل، یوازې پیسې وې. وروسته یې نیم ساعت د ښکار کیسې وکړې، بیا د دویمې او درېیمې ښځې د درلودلو ضرورتونه یاد شول، اخېري خبرې په ښه جنګې زرک ودرېدې.

نو ته فکر وکه! دلته له پل، پلچک، روغتون او مکتبه غلا، قاچاق، د پوډرو کاروبار، د ځنګلونو وهل، د معدنونو الوځول... افتخار دی. دا خلک هیڅ شرم نه لري، ان د خپلو مړو هډوکي یې لا په نورو خرڅ کړل. په دوی کې د وطندوستي یوه ذره حس هم نه‌شته.

په دې دومره وخت کې نه په مکتب وغږېدل، نه چا دا وویل چې د کلي لاره خرابه ده، نه کلینیک یاد شو، نه یې کومه د وطندوستي خبره وکړه.

پیشو غلې شوه. و یې ویل:

–هیلی! در نه لاړم. مېلمانه ډوډۍ ته ولاړ شول.

پیشو منډه واخیسته. تر واړه وره ووته، د کور په چوتره کې یې ساه ونیوله. دېوال ته د تکیه شوي کاږه ځګ او دېوال تر منځ په چوله کې پرېوته.

نجونو ته یې وکتل، غټې کوټې ته یې ډک پتنوسونه وړل. پزه یې کش کړه، رنګارنګ خوراکونه وو.

غیرت راغی، په چوتره کې ودرېد، په لوړ غږ یې وویل:

–بلا وهلې یاست! یو څه ګړندی شئ، مېلمانه یې را ولاړ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سایرې وویل:

–لالا، مازې د هندواڼو غوري پاتې دي.

غیرت وویل:

- خو ګورئ! غرې مو وا نه ورم.

غیرت کوټې ته ورغی، لوښي ښکلي ایښي وو. بېرته د دالان په وره کې ودرېد، و يې ویل:

–بیا هم درته وایم، غرې مو وا نه ورم.

ګډه خندا راغله. غیرت ور وکتل، مېلمانه کور ته له پرې شوې دروازې راووتل. ټول لمر ته ولاړې نوې لنګې شوې غوا ته ور وګرځېدل.

پاچا په خوند وویل:

–یاره رحمدله! اجبه بډوګی (قندولکه) سخوندره يې نه ده!؟ پر دې تور تندي خو يې دا سپین خال یوه دنیا ارزي.

عبدالرحیم وویل:

–رحمدله! ستا د غواوو ښه ذات دی، یوه سخوندره دې له ما سره هم ویل کړې وو.

ټول چوترې ته وختل، باتور له بدنی او چلمچي سره تیار ولاړ و.

رحمدل وویل:

–حاجي صاحبانو! زحمت مو وبخښئ، تر باغه ډېره لاره وه، ډوډۍ سړېده، همدلته مو سرشته ونیوله.

یوه یوه لاسونه پرېمنځل. کوټې ته ننوتل. حاجي شمشېرخان تر ټولو لوړ کېناست.

پاچا ډک دسترخان ته وکتل، و يې ویل:

–رحمدله! دومره زحمت ته ضرورت نه و، ساده ښوروا بس وه.

رحمدل وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–څه زحمت. ياران دې ژوندي وي.

پيشو د کوټې کړکۍ ته ورغله. ستمې بې واورېد، هيلۍ د چوترې په ټيټه ختېنه زينه نه‌شواى راختلاى.

پيشو ور غږ کړل:

–اوږدغوږى راغى.

هيلۍ ټوپ کړل، چوترې ته ور پورته شوه. په وارخطايي يې شا و خوا وکتل، سپى نه و.

پيشو وويل:

–راځه! کله کله ډار هم ښه وي.

هيلۍ کړکۍ ته ورغله، غږى يې اورېده کړه. و يې ويل:

–د ځلورو نفرو لپاره نو دومره مصرف!؟ ټوله کوټه ډک دسترخوان نيولې ده!

پيشو وويل:

–دا خلک عزت په مصرف کې ګڼي. رحمدل خو لا ښه دى، ګذاره يې کېږي، خو ډېر خواران خلک لا ډېر مصرف د مېلمه عزت بولي. دا څو ورځې مخکې مې دوه کسان وليدل. يوه يې په خواره خوله له بله پور غوښت، ويل يې چې مېلمانه لرم. پيسې يې ورکړې، په هماغه ورځ يې چاغ ورى واخيست. ټوله ورځ همالته وم. په سړي باندې غربت ختم و، ښځې يې له ډېر ټوخې ساه نه‌شواى ايستلاى. ماشوم يې ناروغه و، يوه کوټه يې لوڅه وه، بلې يې زوړ پلاسټيکي فرش درلود.

غرمې ته مېلمانه راغلل، د سړي ملګري وو، نسونو ته يې غوښې ور واچولې. ماسپښين ساراګشت ته تېر شول. ډکې ګېډې تشې شوې، نه ما کړي، نه تا. بس! يوازې سړى غيرتي وګڼل شو.

مېلمانه لاړل، غيرتي چيلم ته کېناست. سترګې يې ځلېدلې، کله کله به په برېتو کې خندا ورغله، داسې ښکارېده لکه په ذهن کې يې چې د مېلمنو وروستۍ خبره ورګرځېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"والله! فلانيه، د مور شيدې دې شه، ډېر غيرتي يې." خو له کوټې يې د ناروغ ماشوم ژګېروي راتلل. ښځه يې دوه ځله ورته راغله، و يې ويل چې وه سړيه، د خدای روی ومنه، ماشوم مري. سړي ناره کړه چې څه وکم، پوروړی يم، ډاکټر او دوا پيسې غواړي، په جېب کې يوه روپۍ نه لرم.

ښځې ژړل. ده په راډيو کې سندره اورېده. سترګې يې له غروره ډکې وې. وړه خبره نه وه، غيرتي و.

هيلی وويل:

–خو ورته وګوره. ټوله کوټه ډکو غابونو نيولې ده. دا خوراک د شلو کسانو هم بس دی.

پيشو وويل:

–اه! کم خوراک يې نو بله بېغيرتي ده. دلته دوو نفرو ته د اتو کسانو تياری نيسي. هر څه بايد تر بسو څو واري ډېر وي. که مازې يو څه کم شي؛ نو پېغور يې ګڼي. رحمدل څلورو کسانو ته شپږ منه پسه حلال کړ.

–خو اوس مې د رحمدل دوې کشرانې لوڼې وليدې. په باغ کې ناستې وې، يوې د کميس ارمان درلود، بلې ټيکری غوښت. د دې مېلمستيا پنځمه برخه مصرف هم تر مېلمنو ډېر و. په پاتې پيسو يې ټولې لوڼې پټولای شوای.

پيشو غلې وه.

د حاجي عبدالرحيم غږ راغی:

–ياره حاجي صاحبانو، دا د واکسين له والو سره به څه کوو؟ ستاسې کلي ته هم درغلي وو؟

پاچاپه ډکه خوله وويل:

–هو! وايي چې د واکسين د والو امنيت وساتئ.

حاجي شمشېرخان ته يې وکتل، حاجي بسته ورون خولې ته نيولی و. پاچا وويل:

–شمشېرخانه! ته څه پکې وايې؟

حاجي په ډکه خوله وويل:

–داخبرې په کېدو نه ارزي. له خوراکه مو باسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشو وویل:

–هیلی! باز ته وګوره! کوناټي یې وخوځېدل، وا یې وره! یوه خبره، خو پخه خبره کوي؟

باز وویل:

–واکسین څه په ډک... وهئ. پخوا نه و، اوس دې هم نه وي، په دومره جنجال نه ارزي.

پیشو وویل:

–د همدې پوهاند صاحب یو لمسی ګوزې وهلی

پاچا وویل

–دا د نجونو د مکتب خبرې هم ماغزه را اېشولي دي. ها بله ورځ هم ولسوالي ته له ولایته د حکومت سړي راغلي وو. ویل یې چې لوی پل په یوه شرط درته جوړوو چې د نجونو مکتب به له بیا ترمیمه وروسته ساتئ.

حاجي شمشېر خان په ډکه خوله وویل:

–پربېږدئ داخبرې! د خپل پلار او نیکه شملې مه ټیټوئ، نه مو مکتب په کار دی، نه پل، نه پلچک، نه سړک. زه خو وایم چې دا د هلکانو له مکتبه هم خدایکه ښه ورځ ووینئ! رحمدله، د دې نوې لنګې غوا سخوندرې دې ډېر خوند راکړ. نه به یې کې را؟

د رحمدل سترګې وځلېدې. په بېړه یې د فیرني پیشقاب ور بېرته کړ. و یې ویل:

–ولې نه حاجي صاحب، تر تا ځار! خو اوس غوا پرې لوشو.

حاجي شمشېرخان وخندل:

–زوروره، نو ما سمدستي کله پرې پکې اچولی دی.

پیشو سوکه وویل:

–اخ! پل، مکتب، پلچک، سړک... د وطن ابادي څه کوي! د غوا سخوندره مهمه ده.

پاچا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–حاجي شمشېر خانه! په نورو تېز ورځې، خو په خپله خبره نه يې ولاړ.

حاجي شمشېرخان ور وکتل.

پاچا وخندل:

–ځان داسې ناکاره مه اچوه، خپله دې راته ويلي وو چې د کلات د جلدک تازيان نوم لري. دا وار يو کونګری درته راوړم. دوه ځله لاړې، خو...

حاجي شمشېرخان په خبره کې ور ولوېد. په خندا يې وويل:

–پاچا! غوټ درته مات يم، خو که به درواغ درته وايم، اورته دې راباندې طلاقه يې! څو وارې مې په زړه کې را تېر شوې، خو ډېر مصروفه وم، سر ناخلاصه خلک دي، څو ځله مې د کوکنارو د کرلو چل ور وښوو، نوی تخم مې ور ووړ. بوجی–بوجی اصل کود مې ورته واخيست، خو کوکنار وکري، په پاللو يې نه پوهېږي، غوزې يې ورېږ راشي... خير، بل ځل مې نه هېرېږی. هاغه د مستو کاسه را ببرته که.

رحمدل وويل:

–باز حاجي! ته ونيسه، اجبه د سينې پسته غوښه ده. نه دې په عذابوي.

باز! غټ ټېغ را وايست. رحمدل په لاس کې نيولې بوټی ببرته په پيشقاب کې کېښوده.

پيشو وويل:

–دې ته وايي دروند او هوښيار. عالمانه خبره يې ونه کړه، رحمدل يې په ټېغ وپوهاوه چې ډک يم.

حاجي شمشېرخان پر خپلو غوړو شونډو توليا تېره کړه، و يې ويل:

–ياره رحمدله! لکه چې دا نوې کډه دې ښه لاس لري، اخېري څو وارې ډوډی دې له خونده ډکې وې.

عبدالرحيم په خبره کې ور ولوېد:

–په دويم واده به دې د کور عزت خوندي وي. سپينه مامد دينه به درته وکم، زما خو درېيمې ته هم نېت دی.

ټولو وخندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمدل په خندا وويل:

-در واخلئ، لاس مه نيسئ.

له هرې خوا درانه ټېغونه راغلل، بيا تر ډېره شکرونه ايستل کېدل.

دعا وشوه. مېلمانه لا باغ ته له پرې شوې وره نه وو وتلي چې له دالانه ښځې او نجونې راووتې. ټولو کوټې ته ور منډه کړه، د کېناستلو په حال کې بې لا پيشقابونو ته لاسونه ور وغځول.

پيشو وويل:

-د دې نجونو کولمې يوازې د مېلمستيا په وخت غوړېږي.

هيلۍ ور وکتل:

-خو دوی د سړيو پاتې شونې خوري. کاشکې بې په دېګونو کې ځانونو ته يو څه پرېيښې وای.

پيشو وويل:

-خبره دې ژر هېرېږي. درته و مې ويل چې دا خلک ځلورو کسانو ته د شلو نفرو خوراک ږدي، عزت بې ګڼي.

هيلۍ بېرته غړۍ اوږده کړه، وړو نجونو په خپلو غاښونو له هډوکو غوښې شکولې.

هيلۍ وويل:

-خو دا نجونې او ښځې تر اوسه ولې غلې وې. ټولې په يوه تنګ دالان کې راټولې وې. ان د وړو نجونو هم چوپ نه خوت. داسې لکه په دې کلا کې چې د ښځې يا نجلۍ په نوم هيڅ ژوندی ساری نه وي.

پيشو وويل:

-له غږېدا منع وې.

-ولې؟

پردي نارينه بې بايد غږ وا نه وري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-پوه نه‌شوم.

-خدای دې پوه که. دلته د ښځې د غږ اورېدل هم د نارینه‌وو شهوت پاروي.

پیشو روانه شوه.

هیلی وویل:

-څه کوې؟

-د اورېدغوږي ساه مې واورېده.

هیلی شا و خوا وکتل:

-دلته خو نه‌شته.

پیشو وویل:

-ته یې نه اورې.

پیشو کادانې ته ننوته. و یې ویل:

-سېرلیه! خوله دې پټه که، ډېر بد ښکارې.

لاړه، پر پروړه پرېوته.

چرګې وویل:

-هیلی دې څه کړه؟

پیشو ور وکتل:

-چرګې! که نور نه وي، د دې چرګوړو تر مخ خو لږ هوښیاره غږېږه. هیلی خو په ما پورې سرېښ نه ده.

سېرلي ور غږ کړل:

-نن خو بیا تیار رحمدل یې. خبره نه درسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيلی راغله. چرګې ته نږدې پرېوته.

ټول غلي وو. يوازې د سپرلي غاښونه سره لګېدل. شخوند يې واهه.

پيشو سر پورته کړ:

-چرګې! چوچوڼې دې ويده دي؟

چرګې وويل:

-پام چې مرداره خبره و نه کړې.

پيشو بېرته پر پروړه سر ولګاوه. سوړ اسوېلی يې وايست.

هيلی وويل:

-پيشو! زړه دې ډېر ډک دی!؟

-ورک يې که، دې وطن ته مې خوا بدېږي.

سپرلي وخندل:

-نوې خبرې دې زده کړې؟

پيشو وويل:

-مردارخوره، نوې خبرې نه دي، دا وطن خو زما هم دی، ستا هم دی، د چرګې هم دی. لږ احساس پيدا که. ته او رحمدل څه فرق سره لرئ!

هيلی وويل:

-خو نور خلک به داسې نه وي، يو څه د وطندوستي حس به لري.

پيشو تر يوه وخته غلې وه، بيا يې سر پورته کړ:

-هيلی! زه په دې کليو کې ډېره ګرځېدلې يم. دلته پنځه نوي فيصده خلک رحمدل دوی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلې شوه. وېې ویل:

–واوره! یوازې د یوې ورځې کیسه به درته وکم. موچي مې ولید، سړي ته يې د بوټونو اصلي پسکی ور وښوو. سړي مازې سترګې ترې واړولې، موچي په بوټ کې ارزان بیه پسکی کېښود. دهقان ته ورغلم، په پټي کې د شکېدلو رومي بانجانو لوېې کوټې ته ناست و. سړي پلاسټیکي خلطې ورسره وې. دا رنګ د خلکود غولولو لپاره و. خام رومیان هم سره پکې ښکارېدل. دهقان د خلطې څنډو ته سالم رومیان اېښودل، منځ يې له خوسا او چینجنو رومیانو ور ډکاوه.

قصاب ته ورغلم. خدای خبر، په کومه زمانه کې يې یو غویی حلال کړی دی، خو د هماغه غوایي یوه ټوټه سپین پوستکی يې ساتلی، تل هماغه پوستکی د مینښې په ورون پورې سرېښوي، مانا ها خلکو، مېښه نه ده، د ځوان غوایي غوښه واخلئ. تلې ته مې وکتل، دلته ټول قصابان تلې دومره پورته ږدي چې مشتري ته يې منځ نه‌شي ور ښکاره. کار يې کړی وي، په تله کې يې مخکې له مخکې واژګې او بړزې اچولې وي.

د هلکانو له مکتبه تېرېدم، پسپسی مې واورېد، ور وګرځېدم، مدیر له دوو دوکاندارانو سره ولاړ و. ورته ویل يې چې د شپې یوه بجه څلور خرې راولئ، بس! د مکتب کتابونه او کتابچې مې تیار درته بېل کړي دي، خو په نرخ کې به يې بله نه کوئ. تر دې يې ارزانه نه‌شم درکولای.

ډاکټر مې ولید. له ښاره خپل کور ته راته، په ټلیفون کې يې خندل، ویل يې چې بې‌غمه اوسه. د شرکت ټولې روغې او تاریخ تېرې دواوې دې پر ما، زما یوه نسخه به هم ستا له دوا پرته نه وي، یو په دوه به يې درته خرڅې کم، خو څلوېښت فیصده ګټه غواړم.

نوي جوړېدونکي سړک ته ورغلم. له مسلح عسکرو را لرې درې لوکس رېرې خرېیلي نېکټایي کړي کسان ولاړ وو. له نږدې مې غوږ ورته ونیو، لاړې يې سره بادېدلې، د سړک د موادو، د کاریګرو د پیسو او د تېلو په غلا نه سره جوړېدل. یو بل ته يې ګوته نیوله. تا ډېرې واخیستې، ما ته لږ پاتې شوې.

اخ! له چا ګیله وکړو. دلته هر یو تر خپله وسه غل دی.

پیشو غلې شوه.

هیلی وویل:

–مانا ټول بد دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشو سر پورته کړ:

–ښه هم شته، خو ډېر کم، په مردار ډنډ کې یو سطل پاکې اوبه نه چلېږي. یوه ورځ مې یو سړی ولید، ښځه یې تازه لنګه وه، ده له کارېزه منګی ډکاوه. بس! په ټول کلي کې متل شو. پلانی د ښځې سپی دی.

یو بل مامور مې ولید، رشوت یې نه اخیست، همکارانو یې لېونی باله، د کور وال ور نه خپه وو، ویل یې چې نورو په همدې ساده ماموریت کې موټرې واخیستې، خو د مور، وال د یوې خوا نه دی... دا خلک په رڼا ورځ د خپلې ښځې، اولادونو، خپلوانو، دوستانو... تر مخ په ډېر افتخار حرامې پیسې ګټي. یو هم نه ورته وایي چې وه پلاره، وه وروره، وه مېړه، وه خپله... ته خو لس، دوولس زره معاش اخلې. دا ارګاه و بارګاه، د اتلسو زرو ډارلرو موټر، لوکس کور، په دوو میاشتو کې د اتو زرو بوټونه، د لسو زرو دربشي... دې له کومه کړل؟ برعکس، ټول افتخار پرې کوي، رشوت ته یې نوي نوم ورکړی، پیداګیري ورته وایي.

دلته سیند نه دی چې د سپي په خوله مردار نه‌شي، دلته ټوله د سپي خوله ده. ګناه ثواب ګڼي، د وطندوستي بوی هم نه‌شته. په دې خاوره د یوه هم زړه نه سوځي. بس، لکه د لاندې پسه چې د الېیلو له پاره تیارېږي! ټولو لاسونه ور اچولي دي، نر هغه دی چې ګوتو ته یې دېرې وړی ورشي.

هیلۍ وویل:

- خو دا خلک به له اوله داسې نه وو. دوی د پلار، نیکه شملې ډېرې یادوي، پخواني به یې د کار خلک وو.

پیشو روانه شوه، تر سوري یې سر وایست، و یې ویل:

–هیلۍ! راځه!

دواړه باغ ته لاړل. مېلمنو لمونځ کاوه.

پیشو ونو ته وکتل، کېناسته، و یې ویل:

–هیلۍ! یو څه وخت باید ماتله شو.

هیلۍ حیرانې سترګې ور واړولې؟

–ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

–رحمدل دوی خو نه يې چې ببړه کوې!

ښه شېبه ووته، کارغه راغی، لنډه دوره يې ووهله، پر ټيټ ښاخ کېناست. نارې يې کړې:

–کاغ، کاغ، کاغ...

پيشو وويل:

–رائحه.

دواړه کارغه ته ور نږدې شول. کارغه له کوچني هډوکي غوښه جلا کوله.

پيشو ور غږ کړل:

–کارغه! څو کلن به يې؟

کارغه پرته له دې چې ورته وګوري، و يې ويل:

–پيشو! له رحمدله به څه زده کړې. ډېره شخصي پوښتنه دې و نه کړه!؟ دا يې تا ته زما سن مالوم، څه فايده!؟

پيشو په خبره کې ور ولوېده:

–خدای که دې په دې تور مخ مينه يم، د سن مالومول دې زما له دويمې پوښتنې سره ارتباط لري.

کارغه وويل:

–سمه ده، درته و به يې وايم، کابو يو سلو اوياوو ته رسېږم. هله نو، د مطلب خبره کوه!

–کارغه، رحمدل دوی په خپلو پلرونو او نيکونو ډېر نازېږي، هره خبره يې په پنځه زره کلن تاريخ، پخوانۍ پوهه او غيرت ختمه شي. تا خو ډېر عمر کړی، دا خلک کومه کارنامه لري چې موږ نه يو ترې خبر؟ برق يې کشف کړی، کښتۍ يې جوړې کړې، سپوږمۍ ته ختلي، د کوم خطرناک مرض دوا يې جوړه کړې...څه يې کړي؟

هډوکی ولوېد، کارغه خلاص وزرونه پسې را کښته شو. پر هډوکي يې منښوکه ووهله. هيلی ته يې وکتل، و يې ويل:

–دا خو مې نوې وليده!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشو وویل:

–څه یې کوې! رحمدل وویشته. زما د خبرې ځواب دې را نه کړ.

کارغه وویل:

–له پنځه زره کلن تاریخه یې نه یم خبر، خو د رحمدل دوی پلرونه او نیکونه را مالوم دي. بس! رحمدل دوی ته ګوره، که په دې خلکو کې پوهه وینې؛ نو پخواني یې هم عالمان وو، که نه له رحمدل دوی یې ټکی فرق نه کېده.

هیلی وویل:

–خو څنګه خلک وو؟

–ویده. ټول عمر ویده. په یوه وطن کې هم د غرمې خوب نه‌شته، خلک کار کوي، خپل ژوند جوړوي، وطن ابادوي، خو دوی به هم لکه رحمدل دوی شپه ورځ په خوب تېر کړل. سهار چې به را پورته شول، په ټول ملک کې به پردي ګرځېدل. په دې به نه وو خبر چې دا څوک دي، ملک یې څنګه ونیو، له کومه راغلل، څنګه راغلل، ولې راغلل، چا راوستل... بس! نه پوښتنه، نه بازخواست، نه د وطن مینه، نیمايي رحمدل دوی به د پیسو لپاره د خپلو خلکو او خپل وطن پر ضد له پردیو سره ودرېدل. نورو ته به چې پیسې او مقام ور و نه رسېدل، مخالف به شول، تورې او ټوپکې به یې را واخیستې، پردي به کرار ناست وو، رحمدل دوی به په خپلو منځو کې سره وخوړل. دا وژنه، ها وژنه، له یوه لاس پرې که، له بل سر، د یوه کور ته اور واچوه، بل...

یوه خوا به یې ختمه کړه، بیا به یې پردو ته پام شو، پسې وا به یې خیستل، وروسته به په خپل منځ کې نه سره جوړېدل. هر یوه به پاچاهي غوښته. ورور به له وروره سترګې و ایستې، زوی له پلاره. په لکهاوو غاړې به پرې شوې. سرونه به ولوېدل، اخېر به یوه قدرت ونیو. ښځو، مینځو او کبابونو ته به یې ور پام شول. هر پاچا به لکه چرګ په لسګونو چرګو کې پروت و. یوه نه، دوې نه، درې نه، څلور نه، لسګونه او سلګونه ښکلې ښځې او نازکې مینځې به پرې راټولې وې. د شپې به یې مستې کوله، د ورځې به ویده و. عامو خلکو به هم د غرمې خوب نه هېراوه. بله ورځ به بیا همدا کیسه له سره تکرارېدله. دوی به ویده وو، نورو به سلامت ملک لاندې کړ. له سره به یې سترګې وموښلې، په جوش به راغلل... نیمايي به له پردو سره ودرېدل، چا ته چې به پیسې او واک ور و نه رسېدل، تورې به یې را واخیستې، وینې به وبهېدې، له دوارو خواوو. ..

کارغه غلی شو، په هډوکي پسې یې منبوکه واچوله، و یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–په دې نړېدې دوو سوو کلونو کې دوه، درې د کار خلک پیدا شول. له رحمدل دوی سره بې فرق درلود. له زړه بې د وطن جوړېدا غوښته، له خلکو سره بې مینه وه، تعلیم ته بې پام ور واړاوه، مکتبونه او کارخانې بې جوړې کړې، پوځ بې په پښو ودراوه، د بند، برق... رېل په فکر کې شول.

دوی غوښتل چې رحمدل دوی وینښ او د نورو ملکونو سیال کړي، د ژوند خوند ور وښيي، ورته ووايي چې وطن د ټولو مور ده، مه بې خپه کوئ. اباد بې کړئ. اه خلکو! وینښ شئ...

خو رحمدل دوی وېښېدا نه غوښته، وطن بې د غرمې له خوبونو ځار کړ. همدا نېک خلک بې پسې واخیستل... ځوک بې مړه کړل، ځوک بې له وطنه وشړل...

رحمدل دوی په سوله او هوساینه کې ناروغه کېږي. دوی له کراري، انساني ژوند او ابادي سره حساسیت لري، لکه لېوان یوازې په وینو کې خوشاله دي. ووژنه، ووژنه، ووژنه...

کارغه والوت.

هیلی مېلمنو ته وکتل، یو هم نه و، نیازی او سایرې توشکې او بالښتان ټولول.

پیشو او هیلی ورغلل. شېبه وروسته رحمدل راغی.

سایرې د نیازی غوږ ته خوله ور ټیته کړه.

پیشو وویل:

–ورته و بې ویل چې شیرین اغا ته وایم، خوشاله دی. خبره به مې ومني.

سایره خپل پلار ته ورغله، په خواره خوله بې وویل:

–شیرین اغا! یوه خبره مې منې؟

رحمدل تریو ور وکتل.

نجلی خوله کرِه کړه:

–نوې مور وایې چې دا درې میاشتې د پلار کره نه یم تللې، خیر دی، یوه شپه اجازه ورکه، مور بې سخته ناروغه ده. بس! سهار چایو ته بې بېرته همدلته وغواړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رحمدل سترګې رډې راوختې:

-بس، بس، په اوږو يې مه راسپروه. مور يې هيڅ بلا نه ده وهلې.

غلی شو. نيازی ته يې وکتل، ناره يې کړه:

-وه د سپي لورې! پزه دې را پرې کړه، د هندوانو په يوه غوري کې يوه پنجه ولې کمه وه!؟

پيشو وويل:

-اخ! نفرته! دومره ښکلی دسترخوان، رنګارنګ خوندور خواړه او ګڼ لوښي يې هېر شول، خو يوه پنجه يې په ذهن کې پاتې ده.

(٨)

تياره وه، پيشو پر پروړه سر ايښی و.

چرګې وويل:

-پيشو! غلې يې!

پيشو وويل:

-فکر وهم.

-څه فکر؟

-د رحمدل.

-څنګه؟

يوازې يوه ورځ! بس! رحمدل په يوه ورځ کې انسان کېدای شي. هم به پخپله له ژونده خوند واخلي، هم به کورنی ته خندا ورکړي، هم به يې وطن ته خپله برخه خير ور وسپېري.

په تياره کې د سېرلي غږ راغی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چرګۍ! ولې دې وغرړوله، هماغه فکرونه يې ښه وو.

هيلۍ وويل:

ـ سېرليه! ته يې مه اوره.

غلې شوه، و يې ويل:

پيشو، ما او چرګۍ ته ووايه. رحمدل څنګه انسان کېدای شي!؟

پيشو اوږده وغځېده. و يې ويل:

–رحمدل مې په فکر کې يوازې يوه ورځ انسان کړ. ټول غمونه ختم شول.

چرګۍ وويل:

–زړه ته مې نه لوېږي.

پيشو وويل:

–اسانه ده.

هيلۍ په خبره کې ور ولوېده:

–موږ هم خبرې کړه.

پيشو وويل:

–سمه ده. زه به مې يوازې د يوې ورځې فکر درته induced ووايم. تاسې وایاست ښه!

هيلۍ او چرګۍ په يوه غږ وويل:

–ښه.

پيشو وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–نن شپه تېره شوه، رحمدل مې په خپل فکر کې سبا سهار وخته له خوبه را پورته کړ. چوترې ته ووت، نیازۍ په ببړه بدنۍ ته ورغله، خو ده وار ړومبی کړ. بدنی یې ور پورته کړه، موسک شو، و یې ویل:

–ته خو مې مزدوره نه یې. زما غوندې انسان یې، خدای لاس او پښې راکړي، ولې خپل کار په نورو وکم!؟

نیازۍ په چوتره کې حیرانه ودرېده، رحمدل بمبه ووهله. اودس یې وکړ، نیازۍ تولیا ورته ونیوله. رحمدل مننه ترې وکړه، د نیازۍ سترګې ردې را وختې. باور یې نه راته، رحمدل او مننه!؟

رحمدل جومات ته لاړ. کتارونه سم شول، رحمدل ورغی، په لومړي ځل د خپل تره د زوی انځرګل تر څنګ ودرېد. تربره یې حیرانې سترګې ور واړولې. رحمدل ورته موسک شو.

جمع خلاصه شوه. انځرګل کور ته روان شو، خو تر شا یې د پښو ترپی واورېد، ور مېړ یې کوږ کړ، رحمدل ور پسې و. انځرګل ګامونه ګړندي کړل، رحمدل هم چټک شو، انځر ګل خپل کور ته ننوت. د کلا لویه دروازه نه پورې کېده، ور و یې کتل، رحمدل د دروازې په لیخک کې پښه ایښې وه.

انځرګل حیران ودرېد، رحمدل دروازه ټېله کړه، انګړ ته ورغی. وار له واره یې ناره ونیوله:

–د تره کدې! چېرې یاست؟

له دالانه د یوې وړې نجلۍ خوشاله غږ راغی.

–ابۍ! شیرین اغا دی.

ښځې وویل:

–خوب وینې!؟ شیرین اغا خو له جلا کېدا را باده زموږ کور نه دی لیدلی. دلته کله راځي!؟

رحمدل ور ناره کړه!

–راغلی یم.

وړه نجلۍ په ببړه له دالانه را ووته. خندل یې. رحمدل ټیت شو. د وړې نجلۍ له تندي یې مچو واخیسته. له کوټو ښځې، ماشومان او ځوانان را ووتل. ښځې او ماشومان خوشاله ښکارېدل. ټول تر رحمدل را تاو شول. په سترګو کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښکې رغړېدلې، د کور کهول پوښتنې یې کولې... خو ځوانان له خپل پلار انځر ګل سره ګوښه ولاړ وو. په رڼو سترګو یې رحمدل ته کتل...

یوې ځوانې نجلی په چوتره کې سره غالی هواره کړه. بالښت یې کېښود، خو رحمدل دالان ته ورغی. پر زاړه، سپېره لیمڅي یې پلتی ووهلې. نجلی په منډه نوی بالښت ورته راووړ. رحمدل غټې سپړمې کش کړې. په خوند یې وویل:

–اه! څه خوږ بوی، په تناره کې څه دي؟

د انځرګل ښځې په خوشالی وویل:

–شیرین اغا! غرمې ته مو کټوه بار کړې ده.

رحمدل په خوند وویل:

–غوښه به پخه وي؟

ښځه په بېړه تناره ته ور ټیټه شوه. کټو یې را وایسته. یوه ټوټه غوښه یې په ګوتو کې ټینګه کړه، په خوابدي غږ یې وویل:

–لږ خامه ده.

د ګاز ډبه یې ور کش کړه.

رحمدل ناره کړه!

–مکې! غوښه به غرمې ته خورو. کوچ راواخله!

په لنډ وخت کې د رحمدل مخې ته د شیدو چای، تازه کوچ او توده ډوډۍ کېښودل شول. دالان ډک و، ښځو او ماشوانو په مینه رحمدل ته کتل.

رحمدل په ډکه خوله ناره کړه:

–په تربره باندې خدای نه ده خوړلې. اوس به له خپلو ځوانو زامنو سره په چوتره کې ناست یې. وایې به چې دا نابللی مېلمه له کومه شوا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجونو او ښځو وخندل.

رحمدل خپل غړ په زوږه کړ!

–وه غټسرې انځرګله! دا خو دې و نه ویل چې پردی به ولې یې؟ خپل تن، وجود، سکه د تره زوی مې یې، همدا اته کاله مخکې لا سره ګډ و. ماشومتوب مو یو ځای تېر کړی، ګډ مو خندلي، ګډ مو ژړلي، په ګډه مو د ګډ کور رمه پېولې، په ګډه به ګډې انا د ناتار کاسه راته ایښودله، ګډ نیکه به نکلونه راته ویل، یو ځای به لمبېدو. یو ځای به مو د دالانه پر سر د غومبسو ځالې را اچولې. په یاد دې دي، په ما دې څومره خوا بدېده. غومبسې زه وچیچلم، خو ژړل تا.

غلی شو. په ډکه خوله یې ناره کړه!

ـ راشه، زما له سووبه به په خپل کور کې په ګېډه موړ شې. تر اوسه به دې دومره نویین (تازه) کوچ نه وي خوړلي.

ماشومانو وخندل، خو د ښځو سترګې له اوښکو ډکې وې.

له چایو وروسته رحمدل چوترې ته ورغی. ډله ماشومان او ښځې پسې را ووتل. رحمدل حیرانو نارینه‌وو ته وکتل، په زوره یې ټېغ را وایست. و یې ویل:

–د تره کډې!؟

ښځې منډه ور واخیسته.

رحمدل وویل:

–غرمې ته یوه ډکه کاسه ښوروا را ولېږه.

غلی شو. انځرګل ته یې وکتل، و یې ویل:

–د انځرګل برخه غوښه به هم ورسره وي.

ځوانې ښځې په بېړه وویل:

–سمه ده شیرین اغا! په غبرګو سترګو.

یوې پېغلې په بېړه بوټونه ورته سم کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمدل تر چوترې کښته شو. څو ګامه يې واخيستل. ودرېد، ورمېږ يې کوږ کړ.

–د تره کډې! غټسري ته ووايه چې سبا غرمې ته مې ټول مېلمانه ياست. نر، ښځې، ماشومان. يو به هم نه پاتې کېږي.

رحمدل خپل کور ته لاړ. باتور د چوترې په زينه کې کلاشينکوف پاکاوه. رحمدل يې له لاسه ټوپک ور واخيست. په ځا کې يې واچاوه. وړو زړو په حيرانی ورته کتل.

رحمدل وويل:

–باتوره زويه!له ټوپکه خدای که ښه ورځ ووينې، د مرګ وسيله ده، يا به بل وژنې، يا ځان. سر له سبا به مکتب ته ځې.

چوترې ته وخوت، ټولې لونې يې پر ټنډو ښکل کړې. نجونو ژړل، په لومړي ځل يې د پلار مينه ليده.

رحمدل خپلې غبرګې وړې لونې ټېر ته ور نږدې کړې، و يې ويل:

–تاسې به هم په لنډ وخت کې مکتب ته ځئ.

نجونو په راوتلو رډو سترګو ورته کتل. يوې وړې نجلی يو دم وخندل:

ــشيرين اغا! درواغ خو نه وايې؟

د غيرت غږ راغی:

سپين‌سترګې! پلار ته څوک داسې نه وايي!

رحمدل  وويل:

–نه غيرته زويه! په دې کور کې هر څوک د خبرو حق لري.  که څوک غلطي وکي، په ارامه يې پوه که.

کوکوګلې وويل:

–اول خو د نجونو مکتب نه‌شته، دويم خلک به څه وايي؟

رحمدل په خبره کې ور ولوېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–زمونږ لوی مشکل دا دی چې د ځان لپاره نه، د خلکو لپاره ژوند کوو. تعلیم په نر و ښځه فرض دی. پاتې شوه د مکتب خبره! زه یې په خپل مصرف جوړوم.

رحمدل خپلې ورېې لور ته وکتل، یوه پایڅه یې پرې وه. و یې ویل:

–غیرته زویه! ټولې نجونې په موټر کې درسره کېنوه. د ولسوالي په بازار کې چې یې څه به کار و، خوښ دې یې کړي.

د غیرت تندی تریو شو:

–شیرین اغا! داسې نو څوک نه کوي! زه به یې ورته راوړم.

رحمدل وویل:

–نه! تا ته مې تېر اختر یوه سدرۍ راوړې وه، تر اوسه لا پرته ده، ویل دې چې رنګ مې یې خوښ نه دی. دوی هم زړه لري.

سایرې ته یې وکتل، و یې ویل:

–بچکې! ما وبخښه. نه پوهېدم. یو تان ټوکر به مې راووړ، جامې او د کوټو پردې به مو له یوې ټوټې ګنډلې. په دې کې څه بده ده چې په خپله خوښه ځانونو ته ټوکر، څپلی او ټیکري واخلئ.

د سایرې سر یې پر خپل ټټر پورې ولګاوه. په ژړغونې غږ یې وویل:

–اه ګرانې! پلار دې وبخښه. ښه ده چې کونډ ته مې ور نه کړې.

غلی شو. سایرې حیرانې سترګې ورته نیولې وې.

رحمدل وویل:

–له دې وروسته به په دې کور کې له نجونو نظر اخیستل کېږي. دا د دوی شرعي حق دی، چېرته چې یې خوښه نه وه، نه به یې ودوم.

یو دم یې وژړل. په ژړا کې یې له ټولو ښښنه وغوښته. خپله سپکه خوله یې یاده کړه، و یې ویل چې سر له اوسه به پوچ پاش نه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلا لویه دروازه خلاصه شوه، په تراکتور پسې اوږده ټیله ترلې وه. راغی، د انځر ګل دوو زامنو د وهل شوې چنار ځلور، ځلور متره لرګي له ټیلې کښته کړل.

رحمدل ورغی، د تربره زامنو ته یې غېږ ورکړه. د انځرګل زامنو ځمکې ته کتل. یوه یې په خواره خوله وویل:

–پلار مې ځان ملامت ګاڼه. ویل یې چې چنار ستاسې حق و.

رحمدل یو ځوان تر لاس ونیو، خو ځوان بخښنه وغوښته، و یې ویل چې اوس کار لري، چایو ته به بل وخت راشي.

ځوان د تراکتور اشټرنګ ته کېناست، بل تشې ټېلې ته ور وخوت.

اشټرنګ ته ناست ځوان وویل:

–شیرین اغا! پلار مې ویل چې سبا غرمه ډوډۍ ته درځو، خو په یوه شرط! بلې غرمې ته مو تاسې ټول مېلمانه یاست.

رحمدل وخندل. چوترې ته یې وکتل، د ټولو سترګې له اوښکو ډکې وې. رحمدل ورغی. ښځې او اولادونه پرې ور ټول شول.

رحمدل وویل:

ګورئ! انځر ګل دوی مو تن او وجود دي، د ټولو په رګونو کې د یوه نیکه وینه جریان لري. تګ راتګ به ورسره پالئ!

کوټې ته لاړ. ډم یې په تلیفون را وغوښت. لسو بجو ته یې وېښته ور جوړ کړل، په ږیره یې لاس ور وواهه. تشناب ته ننوت. اول یې غاښونو ته برس او کریم ونیول، بیا تر اوبو ووت. پاک کالي یې واغوستل. په چوتره کې ودرېد. نیازۍ وچې سترګې ورته نیولې وې.

د نیازۍ کټلو خوند ورکړ. د نسوارو قوطی یې تر بام واړوله.

باغ ته لاړ، د خرې د ویشتلو ځای ته یې وکتل، سر یې وځړېد. پټارۍ ته ودرېد، غریو واخیست، سلګۍ یې کړې، په ژړا کې یې وویل:

–اه! نجیبې بچکې. تر پایه مې ډاکټر ته ور نه وستې. دا ګنهګار پلار دې وبخښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیغې شوې، رحمدل ور وکتل، باتور خپله خور تر څنګ نیولې وه. رحمدل پر خپلو لندو سترګو څادر تېر کړ. ورغی. باتور یې تر مټ ونیو، وېې څانډه، ورته و یې ویل چې که دې بیا سایرې ته څه ویلي وو، نو د سایرې بچکې پښنو ته به دې حلال...

یودم غلی شو، د حلالېدا له ټکې یې کرکه راغله، و یې ویل:

–باتوره! دا نجونې هم زما اولادونه دي، دوی هم په هماغه اندازه راباندې ګرانې دي، لکه ته او غیرت. پام! دویم ځل لاس پورته کېدا به دې و نه بخښم.

باتور کور ته لاړ، سایره د پلار غېږې ته ور لوېده، و یې ژړل. رحمدل پر ککری ښکل کړه، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، و یې ویل:

–نور به مو غم ته نه ورکوم.

خپله لور یې تر لاس ونیوله، هوار شوي لیمڅي ته ورغلل. رحمدل وویل:

–سایرې بچکې! فرش کوچنی نه دی؟

نجلی په حیرانی ورته وکتل:

–نه شیرین اغا! ته او وروڼه مې هر وخت په همدې لیمڅي کېنئ.

رحمدل وخندل:

- خو ټول نه ورباندې ځاېږو.

سایرې خپل پلار ته کتل.

رحمدل وویل:

ــ هله لورې، تر ټولو لوی فرش راوړه، له دې وروسته به ټول یو ځای ډوډی خورو.

نجلی حیرانې سترګې ورته نیولې وې. باور یې نه راته.

رحمدل وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

–لکه چې له خپل پلار سره یو ځای ډوډۍ خوند نه درکوي؟

د سایرې په سترګو کې اوښکې را ټولې شوې. کور ته یې منډه کړه.

رحمدل پر لیمڅي کېناست. سرې یې له تازه هوا وپړسول. له ځان سره یې وخندل. په لومړي ځل یې خپله خندا اورېده، خوند یې ترې واخیست، په زوره یې کړه. خندا یې په ونو کې را وګرځېده.

غرمې ته د انځرګل له کوره هم ډکه کاسه ښوروا راغله. اوږد دسترخوان هوار شو. رحمدل د خپلو وړو لوڼو لاسونه پر لښتي ور پرېمانځل. لونې یې دواړو خواوو ته کېنولې. د نجونو سترګې ځلېدلې. ټولو رحمدل ته په مینه کتل. له ډکو کاسو ګولې پورته شوې.

رحمدل په ډکه خوله وویل:

خوندوره ښوروا ده. ګوتې ورسره خوړل کېږي.

تر څنګ یې نیازۍ ته وکتل، د نیازۍ په غټو سترګو کې ځلا پرته وه. رحمدل د غوښې کاسه ور ببرته کړه، پر پاستې یې څو مساوي برخې کېښودلې. کوکوګلې ته یې وویل:

–مخ واړوه!

ښځې په حیرانۍ ورته کتل.

رحمدل خبره تکرار کړه.

–ښځې مخ واړاوه.

رحمدل د غوښې پر یوه برخه ګوته کېښودله:

–دا یې د چا؟

–د زرمینې.

انځرګل هماغه برخه وړې نجلۍ ته ور نږدې کړه. دویمه، درېیمه او څلورمه برخه هم همداسې تقسیم شوې. رحمدل پر بله برخه ګوته کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-دا بې د چا؟

-ستا.

رحمدل تندی تریو کړ:

-دا خو صاف هډوکي دي.

ټولو ور وکتل. رحمدل غوښې ته وچې سترګې نیولې وې.

له هرې خوا د غوښې جوړې ګولې ورته را مخکې شوې. نیازی هم په ټیټ سر وړه ګوله ورته نیولې وه. رحمدل په خندا کې وویل:

-په خدای که بې ئکه هم وکم، دا د تاسې حق دی.

سایرې د پلار خېټه وګروله، رحمدل وخندل. وړې لور بې ګوله په خوله کې ور کېښوده. رحمدل د نیازی پر ګوتو ور پربووت، په غاښونو کې بې د ځوانې ښځې له لاسه وړه ګوله ور پورته کړه. د کوکوګلې تندی تریو شو. رحمدل د کوکوګلې ټوله برخه غوښه په پاستې کې ونغاړله. مندې ته بې ځان جوړ کړ، خو واړه او غټ لاسونه ور ولوېدل. رحمدل خندل، غیرت، باتور او نجونو د خپلې مور برخه غوښه ور نه وړله. باغ ګډې خندا نیولی و.

ماسپښین جومات ته لاړ، له لمانځه وروسته بې غاړه صافه کړه، کلیوالو ته بې وویل چې د نجونو د مکتب جوړول ضروري دي.

په دېرشو کسانو کې بې لسو مخالفت وکړ، لسو بې خبره تایید کړه، لس نور بې فکر کولو ته وهڅول.

له لمانځه وروسته د خپلې واده شوې لور کور ته ورغی. و بې ژړل، له لور بې بخښنه وغوښته چې معتاد ته بې ورکړه. بیا بې له زوم سره خبرې وکړې، د معتادینو په شفاخانه کې بسترېدا ته بې قانع کړ. و بې ویل چې د تداوي ټول مصارف بې دی په غاړه اخلي.

له هغه ځایه بېرته کور ته راغی. غیرت ته بې وویل چې حاجي شمشېر خان او نور ملګري جومې ته را وغواړي. زوی بې په حیرانی ورته وویل چې مېلمستیا خو تېره شوه. خو رحمدل ور یاده کړه چې له دې وروسته به ټولې مېلمستاوې ساده وي. دی غواړي چې له خپلو ملګرو سره وغږېږي، پوه بې کړي چې نور دې دا وطن نه ورانوي، ځنګلونه دې نه وهي، کوکنار دې نه کري، غلا دې نه کوي... که بې ومنله ښه، که نه له داسې خلکو سره ملګرتیا، نه ملګرتیا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماخستن ډودۍ بیا ټولو په ګډه وخوړه. تر خبرو خندا ډېره وه. وروسته نجونو خپلې نوې جامې، ټیکري او څپلۍ راواخیستل. هر څه یې خوښ وو، په لومړي ځل یې نظریه منل شوې وه. ارزښت ورکړل شوی و. د انسان په سترګه ورته کتل شوي وو. بیا د مکتب په باره کې سره غږېدلې. سترګو یې ځلا کوله، ځانونه یې د مکتب په سپین ټیکري او تورو جامو کې لیدل.

رحمدل راډیو ته لاس ور وغځاوه. د جنګ، وژنو او د وطن د وراني خبرو یې سترګې لندې کړې. ماخستن یې په کور کې جاینماز هوار کړ، د دعا په وخت کې یې د زړه له اخلاصه وویل:

–یا خدایه! ما وبخښې، زما مور او پلار وبخښې، ټول مسلمانان وبخښې. یا خدایه په داد دې راضي یم. نجونې او هلکان ټول راباندې ګران دي، قربان دې شم، نور به نو څه درنه غواړم! د ګل غوندې په ښکلو لوښو دې نازولی یم.

یو دم یې وژړل، و یې ویل:

–ښځې او نجونې مې ډېرې وځورولې. قول دی، نور به غم را نه و نه وینې. جامو، خوړو، درس، صحت...ته به یې پام کوم...یا خدایه! انځرګل مې هم تن او وجود دی، که خوار وي، زه به ورسره خوار یم، که بېعزته وي، زما نوم به ورسره یادېږي... یا ربه! ته خو لا ډېر عزت ورکړې.

یا خدایه! ښکلی وطن دې راکړی، پورته به واوره وخوري، له نیم ساعت پیاده مزل وروسته به د غنمو لو ووینې. ښکلې هوا، صافې اوبه، شین آسمان، ښایسته مننظرې... خو مورږ یې په قدر نه پوهېدو، وران مو کړ، ژمنه ده! خپل وطن مور ګڼم. په ابادۍ کې یې برخه اخلم... و مې بخښه، اول به د نجونو سوځېدلی مکتب جوړوم.

د نیازۍ کوټې ته ورغی، لومړی یې غاښونه پرېمانځل. بیا له نیازۍ لرې پرېووت.

یو دم غریو واخیست، له ښځې یې بخښنه وغوښته. و یې ویل چې تل یې په سپکو نومونو یاده کړې ده.

و یې ژړل، په ژړا کې یې وویل:

–اه رحمدله! ټکی رحم نه لرې، لور مې ناروغې مور ته نه ور پرېښودله. نیازۍ! سهار به دې پخپله په خپل موټر کې پلارګنۍ ته ورولم.

نیازۍ ورو په کمپله کې ور پټه شوه.

پیشو غلې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپرلي وويل:

–پیشو. چتیاتې دې خلاص شول. په خیالي کیسو دې سربداله کړم.

پیشو وویل:

–چرګې او هیلۍ د یوې ورځې فکر را نه غوښت. ورته و مې وایه.

سپرلي وویل:

–له رحمدل دوی د دومره انسانیت تمه مه لره!

پیشو وویل:

–خو انسانیت اسانه دی، و دې لیدل! له رحمدله مې په خیال کې انسان جوړ کړ، رحمدل په یوه ورځ کې هم ځان او هم ټوله کورنۍ خوشاله کولای شي. نه زحمت غواړي او نه هم مصرف. مازې دې لږ ځان بدل کړي. خبرې دې نرمې کړي، مینه دې ورکړي، د نورو حقوق دې وپېژني. په وطن دې زړه وخوږوي، خپل دې یې وګڼي... بس! همدومره!

یو دم د نیازۍ کوکې پورته شوې.

هیلۍ په وارخطایي وویل:

–څه خبره ده؟

پیشو وویل:

–رحمدل به بیا ښځه تر سوکانو لاندې کړې وي. په مرداره خوله مچکه ترې غواړي.

سپرلي وویل:

ـ نه مې درته ویل چې له رحمدل دوی د انسانیت تمه مه لره! دا خلک خدای که سم کې. پېړۍ، پېړۍ یې همداسې ژوند کړی.هیڅ تغیر نه مني.

پیشو بام ته وخته. پر دېوال کېناسته. سپوږمۍ یې تر تېرو غوږونو یو ګز پورته ولاړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشو د لوڅو غرونو سپېرو څوکو ته وکتل، لاندې راغله، د غره په لمنو کې خړ پړ، شکېدلي کورونه پراته وو. کنډ و کپر پاخه سړک ته يې وکتل، لوی پل پر ملا مات و. د برق پايې ړنګې وې، سوځېدلی مکتب تک تور ښکارېده. هديره تر کلي غټه وه، د وهل شويو ونو زاړه مونډان سپېره وو...

د پیشو سترګې ډکې شوې. سړه ساه يې وايسته. و يې ويل:

–اخ! وطنه! په تا کې ميليونونه رحمدل دوی اوسي. کاشکې يې خپل ګڼلئ، کاشکې دې په قدر پوهېدای، کاشکې يې ستا د درلودلو لياقت درلودای. کاشکې، کاشکې، کاشکې...

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**